ادع الی سبیل ربک بالحکمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتی هی احسن الآیه

دعوت

د توحید او جهاد مجله

د افغانستان د جماعة الدعوة الی القرآن و السنة د افکارو خپرونکې

۳۶ گڼه

او سنۍ جنگۍ او دردونکی حالت د اسلامیت او انسانیت له نظره محکوم او مردود دی

(شیخ سمیع الله)

ای کابله گناهگاره! په تا ئی خوا لا بخه نه ده
مرگ دې وان دی ستا په غیر کی هر څې دی ترن سرسام دی

فرمان الهي

بسم الله الرحمن الرحيم

«ولا تنكحوا المشركات حتىّ يؤ منّ ولا مة مؤ منة خير من مشركة ولو اعجبتكم ولا تنكحوا المشركين حتىّ يؤ منوا ط ولعبد مؤ من خير من مشرك ولو اعجبكمط اولئك يدعون الي النار والله يدعوا الى الجنة والمغفرة باذنه و يبين آيته للناسَ لعلهم يتذكرون○» (بقره-۲۳۱)

ترجمه: وبه نكاح نگيريد زنان مشرك را تا آنكه باور به حقيقت توحيد وبطلان شرك بكنند وهر آئينه كنيزيكه باور كننده به حقيقت توحيد باشد بهتر است از زن مشرك (اصيل اگر چه از حيث مال وجمال خوش شما مى آيد) وبه نكاح ندهيد (خواهران و دختران خودرا) براى مردان مشرك تا آنكه باور وتصديق كنند به حقيقت دين توحيد وبطلان شرك وهر آئينه غلام و بنده مؤمن بهتر است از اصيل مشرك اگر چه (از حيث حسب ونسب يامال وجمال) خوش شما بيايد(چراكه) اين گروه (مشركين) به سوى دوزخ دعوت ميدهند و الله تعالى به سوى جنت ومغفرت (از روى فضل) دعوت ميفرمايد اين گونه بيان ميكند خدا حكم هاى خود را براى مردمان تا پند پذير شده (از راه هاى تباهى وهلاكت نجات يابند).

دعوت

د توحید او جهاد مجله

«قل هذه سبيلي ادعو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشركين» سورة يوسف (١٠٨)

دامتیاز خاوند: دافغانستان جماعة الدعوة الی القرآن والسنة

مؤسس: شهیدشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)

سرپرست: الشیخ سمیع الله

خپرونکی اداره: ددعوت او ارشاد ریاست

اووم کال پرله پسي گڼه (٣٦) ١٤١٥ هـ ق د ربیع الاول او ربیع الثانی میاشتی

دهیئت تحریر تر نظارت لاندی

ددی گڼې مطالب

عنوان	مخ
١- د کویتي مشورتی جرگه ...... (سرمقاله)	٢
٢- صلح و اتحاد	٥
٣- د تنظیمونو مشرانو د جهاد	٨
٤- د یولسو والیانو او مسئولینو د امن	١١
٥- اسلامی تمدن	١٦
٦- د قاهری کنفرانس	١٨
٧- روانډا	٢٢
٨- ای مشرانو (شعر)	٢٦
٩- دا یو فریاد (شعر)	٢٧
١٠- ددین مفهوم	٢٨
١١- لعنتی تسلیمه نسرین	٣٢
١٢- فتویٰ تاریخی آقای خامنه ای	٣٥
١٣- د اصلی اهل سنتو دعوت	٣٧
١٤- د صحابه ؤ ژوند ته یوه لنډه کتنه	٤٢
١٥- د شپږو صحیحو کتابونو	٤٥
١٦- د نبوی ملغلرو امیل	٤٨
١٧- د لیکونو بهیر	٥١

په پاکستان کی د گډون بیه:

میاشتنی: ١٠ کلداری

کلنی: ١٠٠ کلداری

په نورو بهرنیو هیوادونوکی د گډون بیه:

میاشتنی: ٢ امریکائی ډالر

کلنی: ١٠ امریکائی ډالر

په داخل او په پاکستان کی زمونږ نمایندگان

په داخل کی: لعل محمد «افسوس»

اسلام آباد: عفیف احمد

پیښور: غنی الله «مسلم»

لاهور: حماد شاکر

کراچی: چوهدری ظهور احمد

کوئټه: عرفان منګل

مظفر آباد: بشیر قریشی

په نورو بهرنیو هیوادونو کی زمونږ نمایندگان

سعودی عرب: فیضان الله

امریکا: عبدالرحمن احمد

بریطانیا: منور علی

جرمنی: وائی - ایم حمیم

هالیند: عماد الدین بکری اسماعیل

کمپوزر: عطاء الله «الفت»

مکاتباتی پته: «دعوت مجله»، پوست بکس نمبر ٦١٤ پشاور پاکستان

بانکی حساب: افغان اسلامي خبری اداره - اکاونټ نمبر ٧-٦٣-١٠٦ - نیشنل بینک - صدر رود - پشاور.

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

د کویتي مشورتي جرګه او د افغانانو هیلې

دوه نيم کاله پوره کيدونکي دي چي په افغانستان کي خپل منځي جنګونه په شدت سره جاري دي، په دي جنګونو کي چي لا تر اوسه پکي بايلونکي او ګټونکي نه دي معلوم شوي او په نظامي او وچ زور سره پکي د افغان مشرانو تر مينځ د اقتدار د ساتلو او اقتدار نيولو مسابقه روانه ده، نه يوازي د کابل ښکلي ښار دړي وړي شو او عامه تأسيسات پکي د جګړي اور لولپه کړل، زيات بي ګناه او بي دفاع انسانان پکي هم د مرګ کومي ته ورغلل او د عمومي ناتار په حيث ئي دا وخت افغان قوم د ژوند او مرګ تر مينځ د تدريجي مرګ سره مخ کړي دي.

د جنګ په دي دوران کي په ملي او بين المللي سطحه ډيري منځګړي ډلي رامينځ ته شوي، خو کومه نتيجه ئي ځکه ورنکړه چي جګړي د جهاد د اهدافو په عوض د اقتدار لپاره د منطقو د نيولو لپاره او مشخصو تنظيمي فعاليتونو دپاره اختصاص شوي دي. په دي دوران کي د اسلام آباد، جلال اباد لوظنامي او دمکي معظمي د وعدو او ميثاقونو ماتول هغه برجسته ټکي دي چي د ملت په وړاندي د مشرانو په تجريد او په لوظ او قول باندي نه ودريدل د موجوده بحران د پيدا کوونکو په حيث د مسئوليت نه نشي خلاصيدلي.

د يادوني وړده چي زمونږ اکثره جهادي مشران په خپلو تقريرونو کي افغان جهاد يوه نړيواله جهادي شهکاري بولي او د سوچه اسلامي حکومت په جوړولو د ټينګار مهرونه لګوي خو چي د عمل وخت ئي راشي او يا ئي اعمال په اضطمرار سره وليدل شي او يا کوم ولايت کي د مخالفي ډلي په اصطلاح تصفيي ضرورت پيدا شي نو بيا نه يوازي په اسلامي معيارونو برابر نه ښيژي، بلکه حالت ئي دومره نازک او بحراني کړي دي چي د اسلامي حکومت د جوړولو لاري ته ئي هم ډپ اچولي دي. په او سني وخت کي تنظيمي تشکيلات داسي جوړشوي دي چي هره ډله دي خپل خپل ملکيت ولري، خپل خپل حکومت دي وچلوي او يوه ډله دي د بلي ډلي سره د نماينده ګانو په ذريعه حل مطلب وکړي.

هر کله چي د سولي د تامین او یو مطلوب اسلامي حکومت د جوړولو د پاره په تیرو دوه نیمو کالو کي ټولي وعدي ماتي شوي، د منځګړو کردارکومه نتیجه ورنکړه. اکثره هیواد والو او افغاني تنظیمي شخصیتونو او قومندانانو د ملګرو ملتو تر نظارت لاندي منځګړتوب ته اړ شول، ترڅو په دي وسیله افغان جنګونه بند شي او یو داسي حکومت جوړکړي شي چي د خلکو د ناموس تحفظ وکړي او د جهاد لاس ته راغلي ثمره په اوبو لاهو نشي.

اوس اوس چي دافغان مسئلي د حل او فصل د پاره د سولي ټولي لاري بندي شوي دي او د ملګرو ملتو د خاص استازي محمود مستیري تر سرپرستۍ لاندي په کوټه کي د افغان مشورتي جرګي په نوم کومي هڅي شروع دي، په ظاهر کي تري نه په عام ډول څکه ډیر توقعات لیدل کیږي چي د مذاکراتوځاي مقابلي نیولي دي او یو د بل سره د ټوپک په شپیلۍ خبري کوي.

د کوټي دغه مشورتي جرګه چي د جهادي تنظیمونو او په بهر کي د مشته افغانانو څخه جوړه شوي ده، په دي نیت راټول شوي دي چي دسولي د یوي اخیري مرجع په حیث وکولي شي، هم دائمي دزینډي وکړي او هم د موقتي حکومت بنیاد کیږدي او هم پکي د ټول ملت رضایت موجود وي.

سره ددي چي دا جرګه هم مخالفین لري او په بعضي مواردو کي وړاندي ټکونه او انتقادونه کیږي، خو تر کومه ځایه چي ددي جرګي په تشکیلاتي او افغاني ابعادو پوري اړه لري، که چیري په حقه ورسره همکاري وشي، ددي توان ورسره شته دي چي د یوي اسلامي شوري له لیاري موجوده بحران حل کړي.

کله چي ددي جرګي د څرنګوالي په حقله د قاضي محمدامین وقاد نه پوښتنه وشوه چي د جرګي د کار بهیر څنګه دي او څه کولي شي؟ په ځواب کي ئي وویل «دسولي د یوي مؤسسي په حیث ئي د کار څرنګوالي اغیزمن دي، جرګه د تصمیم نیولو مرحلي ته لا نه ده رسیدلي، خو هغه وخت چي د جهادي تنظیمونو مشران او یا با صلاحیته نمایندګان پکي راټاله شول، په هغه صورت کي کولي شي د یو ځواکمن ارګان په حیث سرنوشت جوړونکي فیصلي صادري کړي، په هرحال که نیتونه صاف وي او د اقتدار جذبه ورنه منفي کړي شي د جوړ جاړي یوه ښه فیصله ورنه راوتلي شي.»

همدارنګه شیخ الحدیث د تره خیلو مولوي د کوټي د مشورتي جرګي په باره کي وویل «ددي جرګي څومره غړي چي هغه جهادي دي او که د بهر نه راغلي دي، یو ئي هم د عهدو په طمعه نه دي او خاص د افغاني اواسلامي احساس په رڼا کي غواړي په افغانستان کي قتل وقتال ته خاتمه ورکړي شي.

ده ټینګار وکړ چي په جنګ کي ککړي ډلي دي د همدي جرګي د لاري خبرو ته کیني او د اقتدار دپاره بې مفهومه او ناجایزه مبارزه دي نوره پاي ته ورسوي».

د جرګي یو بل غړي ډاکتر محمد یوسف وویل « هماغسي چي زموږ جهادي قهرمانانو د جهاد په کامیابۍ کي د ټول عالم اسلام په وړاندي د فتحي او بري شمله اوچته کړه، په هماغه اندازه ئي اوس د

حکومت د جوړولو او د نيول شوي اقتدار د سمبالولو په کار کي د ټولي دنيا د خندا کړو» يعني داسي ئي ځرګنده کړه چي افغانان د اسلام په لاره کي د جنګ او فتحي سالاران دي خو په يو اتفاق او يوه خوله د نظام د جوړولو وس نلري.

دغه راز يوبل شخصيت چي د کويټي د مشورتي جرګي غړي دي د يوي پوښتني په ځواب کي وويل:

«چي جنګ ځپلي ملت نور د جنګ نه ستړي شوي دي، استراحت او ساه اخستلو ته ضرورت لري، اسلامي او انساني سپارښت دادي چي جګړه ماران دي نوره وسله کيږدي، اسلامي احکامو ته دي تسليم شي او د حلالي روزي‌د پيداکولو دپاره دي په نورو جايزو کارونو بوخت شي».

ده د ملګرو ملتو د نظارت لاندي د اوسني جرګي او مشن سره د افغانانو په همکاري تاکيد وکړ او د يو قانوني حکومت د جوړولو په لاره کي چي په اسلامي هويت مبني وي د ابتکار او رامخکي کيدو غږ وکړ.

لنډه دا چي د کويټي د جرګي ټول شاملان په دي نيت راټول شوي دي چي افغاني مسايل خپله د افغانانو په مشوره او لاس سره حل کړي شي او موجوده خونړي بحران هرڅومره ژر چي کيدي شي، ختم کړي شي.

ترکومه ځايه چي د مجلي خبريال د کويټي د مشورتي جرګي د کار د اجنډا فهرست ليدلي دي، د جرګي د پراخيدو او په يو قوي افغاني ځواك باندي د بدليدو لپاره تجويزونه نيول شوي دي.

همدارنګه د محمود مستيري او ورسره هيئت ئي په پام کي لري چي د جګړي په دواړو غاړو باندي د بهر نه د وسلي د بندولو او اکمالاتو د مخنيوي لپاره لازم اقدامات وکړي.

د جرګي د اجنډا د سر ټکي د اوريند، د لوي جرګي او مؤقت حکومت د جوړولو او په هغي باندي د څارني دپاره د بي طرفه امنيتي فوځ جوړول اهم ګڼل شوي دي او ددي دپاره د مشورو ورکول دوام لري، موږ په داسي حال کي چي د جهاد د اهدافو په رڼا کي د اسلامي حکومت د جوړولو په لاره کي د تنظيمونو د مشرانو د پراخه همکاري او خود ګزري په انتظار کي يو، د سولي د هر هغه تحريك سره چي د سولي د ټينګښت او قانوني اسلامي حکومت د جوړيدو لپاره کيږي، پوخ ملاتړ يو.

قرآن او سنت ته رجوع او تقوي الله د ټولو مشکلاتو يواځيني حل ګڼو. زموږ له نظره ټول افغانان چي د مسلماني هويت ولري او په اسلامي تعليماتو او بنيادونو عقيده ولري ددي ذمه وار دي چي د خپل مُلك او ملت د نجات لپاره پاخه ګامونه واخلي.

صلح و اتحاد در تعلیمات عالی اسلام

تعلیمات عالي اسلام که متضمن سعادت دنیوي و اخروي بشر بوده همواره سعي بلیغ فرموده و طرقي را نشاندهي نموده که به عملکرد آن رهروان راستینش از گزند حوادث محفوظ و با فلاح و سلامت به سرمنزل مقصود برسند.

وقتي انسان کلمه توحید را بر زبان مي آورد وبه مفهومش پي میبرد که در ساحه وسایه مسرت بخش اسلام زندگي میکند و جز قانون و دستورالعمل الهي به قوانین و دستورالعمل هاي موضوعي و خود ساخته بشر تسلیم نمي شود و پابند مقتضیات کلمه توحید می باشد، درینصورت است که شخص موصوف را مسلمان مي نامند، یعني این شخص با اقرار به کلمه توحید تعهد میکند که به فرمایشات اسلام (قرآن وسنت) تسلیم است، وقتي برایش معلوم شود که این فرموده‌ء الهي (وحي جلي و یا وحي خفي) است فوراً بدون چون وچرا میگوید: «امنا وسلمنا» یعني بالایش ایمان دارم و برایش تسلیم هستم که درتعمیل آن کوشا باشم.

تقاضاي دین مبین اسلام اینست که انسان باید در تمام شئون وشعبات زندگي فردي و اجتماعي اعم از عبادي و تولیدي خویش از رهنمودها وهدایات والاي آن استفاده نموده و در روشني آن راه پر فراز و نشیب زندگي دنوي و اخروي خویش را با یقین کامل به رسیدن به سرمنزل مقصود مي پیماید.

ملت مسلمان و مستضعف افغانستان وقتي مطابق دو رهنمود اسلام (هجرت وجهاد) علیه یك ابر جنایتکار جهان قدعلم نمودند نصرت الهي را بالمشاهد لمس کردند که در دیار غربت و هجرت چگونه نعمات وافراز هرسو برایشان سرازیر شده و در میدان کارزار با کفار چگونه فتوحات عظیم نصیب شان گردیدند و میدانند که این همه از برکات وفیوضات عملکرد مطابق دساتیر اسلام بود که شامل حال مان گردید وبس.

بعد از شکست وزبوني سلطه وسیطره‌ء کمونیزم مسلمانها از دستیاري و نصرت الهي غافل شده در فکر جمع آوري فواید مالي وسیاسي با توسل به زد وبندها و ائتلاف هاي نامقدس و تعهدهاي نامشروع در دام شیاطین افتیدند وچون از اسلام و دساتیر ولاي آن فاصله گرفتند فلهذا نتیجه آن شد که امیدش نمیرفت.

بهرصورت، شیاطین انسي وجني دست بدست هم داده میان مسلمانان مجاهد چنان فاصله اي را ایجاد کردند که نه تنها امید اتحاد از ایشان نیست

بلکه شهر زیباي کابل و همچنان شهرهاي دیگر افغانستان به خروبه تبدیل گشته و ساکنین آنها به ولایات نسبتاً پرامن و کشورهاي همجوارسیل آسا پناه برده و دور ازخانه و کاشانه خود در دیار غربت بسر مي برند.

استعمار جهان خوار و نیروهاي ضد اسلامي منطقه از بیم حکومت اسلامي در افغانستان موفقانه تلاش دارند تا اتحاد و اخوت اسلامي تنظیم هاي جهادي را به تضاد آشتي ناپذیر تبدیل و در بین شان آنقدر فاصله ایجاد نمایند که امید نزدیکي و تفاهم و آشتي شان قطع شود و بدین وسیله نهضت هاي اسلامي منطقه و جهان را بدنام وعلیه شان منحیث حربهء کاري استفاده نمایند.

مسلمانان آگاه و بابصیرت میدانند که زمینه بروز اختلافات بین تنظیم هاي جهادي و ادامه جنگها و خونریزي ها در افغانستان ناشي از غفلت ما مسلمانان از تعالیم والاي اسلام و فتنه انگیزي نیروهاي ضد اسلامي است که بدست ما مسلمانان عملي میشوند.

اگر ما مسلمانان از بي هوشي به هوش آئیم، به تعالیم انسان ساز اسلام رجوع نمائیم و مطابق آن عقیده وعمل مان را اصلاح نمائیم شکي نیست که الله تعالي توبه مارا خواهند پذیرفت و در رحمت بیکرانش را برخ مایان خواهند کشود.

الله تعالي در کتاب منزل خویش ارشاد میفرماید: «واعتصموا بحبل الله جمیعاً ولا تفرقوا واذکروا نعمت الله علیکم، اذ کنتم اعداءً فالف بین قلوبکم فاصبحتم بنعمته اخوانا و کنتم علي شفا حفرةٍ من النار فانقذکم منهاً کذلك یبین الله لکم ایته لعلکم تهتدون». (آل عمران - ۱۰۳)

ترجمه: و چنگ زنید به ریسمان خدا همه شما و پراگنده مشوید و یاد آرید نعمت خدا را که برشماست و قتیکه بودید دشمنان، پس الفت افگند میان دلهاي شما، پس گشتید به نعمت خدا برادر، و بودید برکناره مغاکي از آتش، پس نجات داد شما را از آن، همچنین بیان میکند خدا به شما آیات خویش را تاراه یابید.

در آیت فوق الله تعالي امر میفرماید که همه تان به «حبل الله» چنگ زنید یعني چه؟ معناي چنگ زدن به «حبل الله» اینست که همه شما قانون خداوند را تابع باشید و به عقیده وعمل بپذیرید، گروه گروه و متفرق مشوید، وقتي متفرق نه شدید این هم یکي از نعمات خداوندي است. و آگر باز هم به کدام اساس باهم دشمن گشتید این «حبل الله» است که در بین شما دوباره محبت ایجاد میکند پس باهم برادر میشوید و پیش ازینکه به «حبل الله» چنگ زنید و یا بدون چنگ زدن به «حبل الله» نعمت خداوند، باعث فلاح و نجات از آتش است، پس بیائید به «حبل الله» چنگ زنیم که «حبل الله» مایهء اتحاد است.

بعداً در آیة (۱۰۵) همین سورة آل عمران ارشاد میفرماید: «ولا تکونوا کالذین تفرقوا واختلفوا من بعد ماجاء هم البینات و اولئك لهم عذاب عظیم». (آل عمران - ۱۰۵)

ترجمه: ومباشید مانند کسانیکه پراگنده شدند و اختلاف کردند با یکدیگر پس از آنکه آمد به ایشان احکام واضح و آن گروه مرایشان را است عذاب بزرگ.

اینجا الله تعالي مر انکاري میفرماید که مانند کسانی مباشید که برایشان هدایت آمده بود بازهم بین خود نفاق و اختلاف کردند باز به سبب این اختلاف و نفاق به عذاب عظیم مبتلاء شدند، چون الله تعالي بخاطر جلوگیري نفاق و اختلاف مسلمانان در سورة مبارك «النساء» ارشاد کلي میفرماید: یاایها الذین امنوا اطیعوالله و اطیعوا الرسول و اولي الامر منکم، فان تنازعتم في شيءٍ فردوه الي الله والرسول ان کنتم

تؤمنون بالله و اليوم الاخر ذلك خير و احسن تأويلا». (النساء -۵۹)

ترجمه: اي مؤمنان! فرمان برید خدا را وفرمان برید پیغمبرش را و اطاعت کنید خداوندان حکم را، پس اگر اختلاف کنید در چیزي، پس باز گردانید آنرا به سوي خدا و پیغمبر، اگر ایمان دارید به خدا و روز رستاخیز، این بهتر و نیکوتر است انجام آن.

اینجا الله تبارك و تعالي به مؤمنان خطاب میفرماید که در مقابل فرمان خداوند حکیم و رسولش صلي الله علیه وسلم فرمان هیچکس را قبول نه کنید بعد از آن اطاعت امیریکه از جمله، شما یعني اوهم مؤمن است ببرید، در دوران حیات و مسایل میشود که درباره چیزي با هم اختلاف نظر وسؤ تفاهم پیداکنید، دراینصورت به کتاب خداوند جل علاشانه وسنت رسول الله صلي الله علیه وسلم مراجعه کنید حتماً راه حل مي یابید مطابق آن عمل کنید.

اینست کلید حل مشکلات، اینست راه اتحاد و اخوت، اینست راز موفقیت و راه مسلمانان که باید آنرا بپیمایند، بعداً بدیگر مسلمانان ارشاد میفرماند:

«وان طایفتان من المؤمنین اقتتلوا فاصلحوا بینهما، فان بغت احدیهما علي الاخري فقاتلوا التي تبغي حتي تفیئ الي امرالله،فان فاءت فاصلحوا بینهما بالعدل واقسطوا، ان الله یحب المقسطین». (الحجرات - ۹)

ترجمه: و اگر دو طایفه، مؤمنین با هم در گیر جنگ باشند، در بین شان صلح کنید، و اگر یکي از ایشان بدیگر ظلم میکند، پس شما باایشان بجنگید تا آنکه ایشان به امر خداوند رجوع نمایند، وقتي راضي شدند به امرالله پس بین شان به قسط وعدل صلح بکنید، به تحقیق الله انصاف کنندگان را دوست میدارد.

آیة مبارکه حکم میکند به مؤمنان عامه که در جامعه، اسلامي شما اگر دو طایفه و یا دوگروه از مؤمنان برسر زمین، ملکیت شخصي، تصرف سیاسي و دیگر مسائل مخالف و درگیر جنگ شدند و باهم منازعه و مقاتله کردند، شما مؤمنان سیل بین و تماشاگر مباشید، دربین شان صلح کنید، اگر یکي ازین دو گروه بردیگري ظلم و تعدي میکند و به حکم الله تعالي تن درنمي دهد، بشماست که باایشان بجنگید تا آنکه گروه باغي به حکم الله تعالي تسلیم شده آنرا بپذیرد، بعداً بین شان به عدل و انصاف صلح کنید که الله تعالي انصاف کنندگان را دوست میدارد.

آیات فوق میرساند که تعالیم والاي اسلام مسلمانان را درهمه اوقات از نفاق و شقاق برحذر نموده و طرقي را یاد آوري فرموده که امة مسلمه به اساس تعمیل آن متحدو یکپارچه بزندگي اجتماعي خویش ادامه دهند، اسلام نمیگذارد که پیروانش گروه گروه باهم مخالف و دشمن یکدیگر باشند.

ما امید واریم جنگجویانیکه باهم در کابل و دیگر مناطق کشور عزیز مان درگیرند به سوي تعالیم والاي اسلام رجوع نمایند و اگر ملاحظات سیاسي و منفعت هاي شخصي و گروهي چشم ایشان را دوخته باشند بر دیگر مسلمانان است که مطابق آیة مبارکه (۹) الحجرات مسئولیت خویش را رفع نموده آتش فتنه بزرگي را که کشور عزیز مان رابه آتش مبدل ساخته خاموش نماید.

(والسلام علی من اتبع الهدی)

شیخ سمیع الله وویل!

دتنظیمونو مشرانو دبریالی جهاد اوچته شمله په ځمکه وویشتله

اوسنی جنگی او دردؤنکی حالت د اسلامیت او انسانیت له نظره محکوم او مردود دی،لویه جرگه هم د لویو جنجالونو سره مخ ده.

د عالمانو، خبیرو او د نظر د خاوندانو سره د مرکو په لړ کی دا ځلي د «دعوت» د مجلی خبریال د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة دامیر شیخ سمیع الله «نجیبی» سره یو اختصاصی مرکه کړی چی په لاندی متن سره محترمو لوستونکو ته وړاندی کیږی.

پوښتنه: ستاسو په نظر اوسني سیاسی صورت حال څنگه دی او څه کول پکار دی تر څو د بریالی جهاد د اهدافو په رڼا کی د اسلامی حکومت ستنی ټینگی او په ټولنه کی د الله دین حاکم شی؟

ځواب: اوسني سیاسی صورت حال چی یو کاملاً جنگی او زړه دردؤنکی صورت حال دی، په هیڅ اسلامي، سیاسی او اجتماعي قالب کی نشي راتلی. اوسنی بوگنونکی حالت چی د بی گناه او بی دفاع مسلمانانو وینی پکی توئیږی او د وطن د ورانولو نه پرته بل مقصد وربانلی مرتب نه دی، نه یوازی دبریالی جهاد نه د اسلامي حکومت د جوړولو په کار کی په اسلامي طریقه استفاده و نه شوه بلکه په ملی او بین المللی سطحه خاصتاً اسلامي ملکونو ته ئی د جهاد اوچته شمله په ځمکه وویشتله او مشرانو په عمل کی و ښودله چی د في سبیل الله جهاد نه اوس د شخصي اقتدار او استحصال کار اخیستی شی. پکار خو دا وه چی زمونږ تنظیمی مشرانو او د کل په حیث ټولو جهادی ځواکونو د جهاد اهداف عملی کړی وای او هغه څه ئی چی د جهاد په دوران کی مجاهدینو ته ویلی کیدل همغه لار ئی تعقیب کړی وای،خو د بده مرغه د اقتدار غلبی هر څه بدل کړل او ددی په ځای چي په اسلامي انتظامیه کی خلقو ته د امن، سوکاله ژوند او اجتماعي ترقی بندوبست وشی،په زور سره د سیمو دنیولو د پاره یو بل ته په کمینونو کی کیناستل او د انسان وژني او مسلمان وژنی داسی شهکار ئی وکړ چی ځانونه ئی د ټولی دنیا د خندا کړل او د جهاد ټول سپیڅلی مفاهیم او مقاصد ئی د پښو لاندی کړل.

اوس نو ددی د پاره چی د الله دین په دی ټولنه کی حاکم شی او د قرآن او سنتو په رڼا کی د خلقو معاشره تأمین

کړای شي،اوسني حالت ته خاتمه ورکول پکاردي او اوس ددې وخت هم راغلی دی چې د هیواد ټول مسلمانان په تیره بیا هغه مجاهدین چې د همدې مقصد د پاره ئې څوارلس کاله وسله واله مبارزه کړې ده په خپلو کې اتفاق وکړي، لومړی دی د کورنیو او بهرنیو دښمنانو لاسونه لنډ کړي او بیا دی عملی میدان ته را ودانګي.دا ملت یوازې د نهو کسانو په ټیکه او انحصار کې نه دی او هر مؤمن مسلمان حق لري چې ددې ملت له نعمتونو څخه مادي او معنوي ګټه اوچته کړي.

پوښتنه: څه فکر کوی د لوئی جرګی د لارې به یوه داسی اسلامي انتظامیه جوړه شی چې د ټول ملت د پاره قابل د قبول وي او د راتلونکی د پاره خپل منځی جنګونه منتفی کړي؟

ځواب: اساسی او بنیادی خبره خو دا ده چې دا حالت د ځینو مشرانو د اقتدار پسندی په نتیجه کی منځ ته راغلی دی که نه نو د اسلامي انقلاب د بري نه وروسته د څو ساعتونو کار وو چې مشرانو په خپلو کی اتفاق کړي وای او د حکومت او دولت د پاره ئی د خپل مینځ نه جمهور رئیس او صدر اعظم ټاکلی وای، خو د بده مرغه د همغه اولی ورځی نه ئی ددی عهدو په سر په ماشو کی ګوتی ایښی اود تیرو دوه نیمو کالو راهیسي ئی حالات دومره بحرانی کړی دی چې نه پکی شرعي فیصلی ته څوك غوږ نیسی او نه په ملی سطحه د لوئی جرګی د جوړیدو څه خیال ساتل کیږي.

اوس چې د لوئی جرګی د جوړیدو د پاره زیات امکانات برابر شوي دی او د ځینو مجبوریتونو په اساس اکثرو تنظیمونو دی اصل ته غاړه ایښی ده، بیا هم د یوی او بلی خوانه ئی دجوړیدو په لاره کی تیګی اچول کیږي او د میکانیزم په سرئی اختلافات شته دی. زما په نظر په سلو کی څلویښت ددې امکان شته چې د جرګی چارې په مخ لاړې شی،خو بیا هم لویه جرګه به د لویو جنجالونو سره مخ وی.

دا جرګه به هغه وخت کامیابه شی چی ټول ملت ته پکی برخه ورکړی شی او په مواصفاتو برابر خلك ورته راشی او دا چې وروسته به بیا هم تنظیمی او خپل منځی جګړې بندی شی او که نه؟ هیڅوك ددې ضمانت نشي کولی چې د ځینو تنظیمونو تر منځ اختلافات دومره پرسیدلی دی چې تر اوسه پکي هیڅ منځګړی مثبت کردار نه دی ادا کړی.

پوښتنه: د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة تنظیم اوس په کومو چارو بوخت دی؟ ددعوت چلولو چارې ئی په کوم پړاؤ کی دی او د کار نتایج مو څنګه ځیری؟

ځواب: جماعة الدعوة لکه چې د نوم نه ئې څرګندیږی یو داسی تنظیم دی چې خاص د قرآن او سنت د حاکمیت د پاره ئی ددعوت چلولو جنډه پورته کړی ده او په دې لاره کی دچوکې او اقتدار نیولو او اقتدار ته رسیدلو غوښتنه ئی په منشور کی نشته دی. دغه دعوت د یوی حقیقی شتمنۍ په حیث دومره جاذبه لري چې په هر چا باندی اثر غورځوی او ډیر زر دی ته تیاریږی چې د قرآن او سنتو په رڼا کی هغه څه چې اوری او زده کوي،په قوی استناد سره ئی نورو ته تبلیغ کړی، ټول مسلمانان هیله لري چې ددی عقیدی د تبلیغولو په کار کی برخه واخلی او د خیر دغه سپیڅلی وظیفه سرته ورسوی.

مونږ د همغی اولی ورځی نه چه دغه تنظیم ایجاد کړی دی، ددعوت په چلولو بوخت یو نه یوازی دعوت بلکه د صلحی او خیر په ټولو چارو کی

زمونږ تنظیم کار کوی،په تیره بیا ځوان نسل چی د خرافاتو سیوری لا پوره نه وی لاندی کړی، د جماعة الدعوة کرنلاره ډیره زرمنی او په خپل چاپیرچل کی ور باندی خلك تنویروی. جماعة الدعوة د نظری دعوت تر څنګ په عملي توګه د توان په اندازه جوماتونه جوړوی او د خیر هر کار کی مادی او معنوی ونډه اخلی.

همدا اوس د جماعة الدعوة په قلمرو کی په یوه «شرعي معهد» او «کلیه» بر سیره چی په ښه علمی سویه فارغان تولنی ته وړاندی کوی. شپږ مدرسی په پاکستان کی جوړی کړی دی چی په دی لړ کی څلور مدرسی د جینکو د پاره هم فعالی دی،اوس چی مدرسی په داخل کي هم شته دی او په اسلامي اصولو چلیږی نو زیات مینه وال ئي پیدا کړیدی. دا رنګه د دار الحدیث والقرآن په نوم د نبوی احادیثو ددوری لپاره چی کوم مرکز شته تر اوسه پوری ئی زیات عالمان فارغ کړیدی او ددی جماعت د منشور په اشاعت کی ئی فعاله ونډه اخیستی ده.

لنډه دا چی دجماعة الدعوة چاری د پروګرام مطابق پر مخ ځی او مونږ ددي تنظیم د فعالینو د کار او اشاعت څخه راضي یو.

پوښتنه: د معلوماتو له مخی په کونړ کی د جماعة الدعوة په اکثریت حکومت جوړ شوی، ددی حکومت په جوړولو کی د شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) کردار څه ؤ او د اسلامي امارت د جوړولو د پاره ئی څه سپارښتنی لرلی؟

ځواب: هماغسی چی ټول هیوادوال خبر دی چی د لومړی ځل د پاره په کونړ کی اسلامی امارت جوړ شوي اواسلامي حدود نافذ شول او په ټول هیواد کی د اسلامي حکومت د جوړولو په لاره کی یوه ځلا او نمونه شو، خو معأسفانه چی دښمنانو دغه امارت ونه شو زغملی او په دی امارت ئی جګړی ورتپلی.

هماغسي چی شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) د جهاد د بانی په حیث شهرت پیدا کړی دغه امارت هم دده د هلو ځلو محصول ؤ ، ده به ویلی چیرته چی حکومت جوړیږی باید فوراً هلته اسلامي حدود نافذ شی، د کونړ د امارت د جوړیدو نه وروسته به شهید دا خبره کوله چی کله په مرکز کی د اسلامي حکومت د جوړیدو اعلان وشی،د کونړ اسلامي امارت به ئی هم یوه برخه وی. شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) به همیشه د تنظیمونو تر منځ جنګ جګړی غندلی او د جهاد اهداف به ئی خلکو ته بیانول،لکه چی د الله بخښلی د هغه وخت وینا ګانی د اوسنی جنګی او اختلافی ماحول ټکی په ټکی ریښتنی تعبیر دی او اوس سړي پوهیدلی شی چی دی د څومره علمي تبحر او ژوری پیش بینی خاوند ؤ .

شیخ سمیع الله «نجیبی» د مرکی په پای کی د یو پیغام په ترڅ کی په ټولو جهادی مشرانو غږ وکړ چی د مظلوم ملت د سوکالی او ریښتینی امن د تأمین په خاطر دی یوی غوځی روغی جوړی ته سره ورسیږی، ذات البینی اختلافات دی لیری کړی، د پردیو د لاس آله دی نه ګرځی او د اسلامي حکومت د جوړولو دپاره دی امکانات برابر کړی شی او که بیا هم جنګونوته دوام ورکوی دمسلمان ملت حق دی چی د جګړه مارو په مقابل کی متحد شی،را پاځیږي او د جنګ دغه بلا ګانی د مخی نه لیری کړی.

د ولسوالیو، ولایتونو والیانو او مسؤلینو د امن او صلحې په باره کې ویلي دي!

په کابل کې د «دعوت» مجلې خبریال

حقیقت دا دی چې د افغانستان مسلمان او مؤمن ملت د اسلامي سپیڅلو اهدافو په رڼا کې د څوارلس کاله جهاد نه وروسته دا توقع درلوده چې د روس د پلوی ګوډاګي او الحادي رژیم دنسکوریدو نه وروسته به خامخا هغه نظام حاکم کیږي په کوم سره چې قرآن او سنت تطبیقولی او د انساني ژوندانه د لاری مشعل او رهنما ګرځولی شي.

خو له بده مرغه د اسلامي انقلاب له بري سره جوخت زمونږ اکثره مشران او جهادي قوماندانان د داخلي جګړو په تلك کي ونښتل او د الله ددین د حاکمیت په عوض د نظامي مقابلې هغه لړۍ پیل شوه چي د جهاد او اسلامي ارشاداتو له اهدافو سره منافي او د مسلمان وژنې یوه بوګنونکي تراژیدي ئې په مجاهد ولس باندي وتپله چې اوس هم دغه ناخوالې ښه په درزکې رواني دي او هیڅ ملي او بین المللي منځګړی تر اوسه و نشو کولی چې ددې مسلمان وژني او بې معنی جنګونو مخه ونیسي.

پدې لړ کي څه موده وړاندې یو شمیر والیانو او مسؤلینو په کابل کې څو ورځې جرګې او مرکي درلودې او د دائمی صلحې د تأمین د پاره ئې له جهادي مشرانو سره خبري هم وکړې خو ددې رپوټ تر لیکلو پورې په کابل او ځینو ولایاتو کي جنګونه لا جاري دي او ود لانجي کوم قاطع حل لا نه دی راوتلی.

د «دعوت» مجلې خبریال د موقع نه په استفادې سره په کابل کي له یو شمیر والیانو سره ددوی د سوله ایزو فعالیتونو په لړ کې لنډې مرکې کړې دي چې په لاندې متن سره محترمو لوستونکو ته وړاندې کیږي:

زه به هیڅکله هم د صلحې په کار کې د جمعیت اسلامي د تنظیم طرفداري ونکړم.

(ستر جنرال اسماعیل خان)

د جنوب غرب د حوزي امیر او د هرات والي ستر جنرال اسماعیل خان چې په عین حال کې د هرات د غونډې رئیس هم دی، د«دعوت» د نماینده د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل: ما چې دجنګ بندولو کوم مشن شروع کړي دی د هر ډول شخصي او تنظیمي ملاحظاتو نه پاك دی، هر مؤمن، مسلمان او مجاهد چې اوسنی ناجایز او بې مفهومه جنګونه ګوري چې یو مسلمان بل مسلمان ته د قتل او قتال د پاره کمین نیولی دی او د کورنیو او بهرنیو دښمنانو په شیطانت کوم اور زمونږ په کور کې بل دی، بې له شکه چې بې تفاوته پاتې کیدل جرم او ګناه ده.

ده زیاته کړه ما چې د یوې لوئې شورا د لارې د صلحي کوم پروګرام شروع کړي په صداقت او ایمانداری درته

ويلي شم چې د خپل تنظيم (جمعيت اسلامي) په طرفدارۍ پکې يو تکي هم وجود نلري خو دا چې په دې لړ کې پروپيګندې کيږي چې ګوياً د يو تنظيم خلق دي، بې بنياده او خصمانه خبرې دي او اصولاً دغه ډله نه غواړي چې صلح تأمين شي او يوه اسلامي انتظاميه جوړه شي.

ده وويل: د مُلك په جنوب غرب ولاياتو کې چې کوم امن ټينګ دی او کومه انتظاميه چليږي، زه ويلی شم که چيرې خارجي او خصمانه لاس وهنې نه وي نو د لوی الله په فضل په ټولو مشکلاتو غلبه حاصلولی شو.

ده زياته کړه: زمونږ دصلحې په مشن کې چې څه فيصلې شوې دي هغه بالکل د شريعت سره هم برابرې دي او د ملت غوښتنه هم ده.

ډګر جنرال ملا نقيب الله اخونزاده چې د قندهار د ولايت په نمايندګۍ کابل ته راغلی وو، زمونږ د خبريال ددې پوښتنې په ځواب کې چې د قندهار خلك د پخوانی پاچا قيادت غواړي او د صلحې سمبول ئې ګڼي تاسو پکې څه وائی؟

داسې څرګندونې وکړې:

پخوانی پاچا په تش لاس هيڅ نشي کولی د افغانستان د اسلامي دولت اوسني انتظاميه چې په نظامي لحاظ دپوره قوت او قدرت نه برخورداره ده، سره ددې هم د مزاحمتونو سره مخ ده اود قدرت شوقيان ئې د کار کولو ته نه پريږدي، پخوانی پاچا محمد ظاهرشاه چې يو چاقو هم ورسره نشته څنګه به وکولی شي چې د افغانستان اوسنۍ اداره چې ټول په وسلو لړلې دي او په ډلو ټپلو تقسيم شوي دي، په خلکو حکومت وکړي او امن تأمين کړي؟

ده زياته کړه ظاهر شاه که هر څومره د امن او صلحې سمبول شي په تش لاس هيڅ نشي کولی. اوس په افغانستان کې دوه لارې دي چې صلحه وربانډې راتلی شي، يا دا چې د اسلامي ارشاداتو سره سم به د جهاد د هدفونو په رڼا کې ټول د اسلامي حکومت په جوړيدو متفق کيږي او جوړ جاړی ته به رسيږي او يا به هم د بده مرغه د نظامی بر تري او زور ازموينې د لارې د قتل عام نه وروسته د غالب او مغلوب په معلومولو سره د جنګ قهرمان جنده اوچتوي، چې دا لاره ئې خورا خطرناکه او د اسلاميت او انسانيت د اصولو خلاف ده.

ده زياته کړه مونږ هڅه کوو چې د مشرانو په منځ کې د مقابلې پر ځای د مذاکراتو او جهادی وروروليٌ اړيکی ټينګی کړو، خو د افسوس خبره داده چې يو پر بل اعتماد ختم شويدی او د هرې ورځې په تيريدو سره ئې په منځ کې فاصله او ترېګني زياتيږي.

که مونږ په اسلامي اساساتو عمل وکړو محمود مستيوي ته هيڅ ضرورت نشته دی.

(قاري بابا)

د غزني والی او تنظيمه رئيس تاج محمد« قاری بابا» زمونږ دخبريال د يو سوال په ځواب کې وويل: مونږ ددی دپاره کابل ته راغلی يو چې ددائمي اوربندي او صلحې د پاره يوه معقوله لاره پيدا کړو او په جګړه کې ښکيل طرفونه په يو ميز د خبرو د پاره کښينوو، خو متأسفانه چې زمونږ ځيني مشران دومره سخت شرايط وړاندې کوي چې دوه پردې هيوادونه ئې هم يو د بل په مقابل کې نه مطرح کوي.

ده زياته کړه اصولی خبره دا وه چې مرکزي حکومت د ولاياتو لانجې هواروليٌ او د مرکز نه ئې هدايت صادروليٌ خو د جنګونو او اختلافاتو په وجه ولايات لګيا دي، مرکزي مشران پخلا کول غواړي، دا ولی؟ دا ځکه چې مشرانو داصلی لارې نه انحراف کړی دی او د اسلامي حکومت د جوړولو په عوض ئې خپله قدرت غوښتنه او خپل اهداف مخکی کړی دی.

ده وویل: که چیری مونږ د اسلام او قرآن په لاره سم لاړ شو او شرعي اساسات عملی کړو، خبره جوړه ده او د ملګرو ملتو محمود مستیری ته هیڅ ضرورت نشته، اسلامي سپارښت دی چې وائي: "که چیری ستاسو په منځ کي اختلاف او جګړه پیښه شوه نو هغه د قرآن په حکم سره فیصله کړئ."

ده زیاته کړه تر څو پوری چی زمونږ مشران او مسؤلین د الله حکم ته تسلیم نشی او په «واعتصموا بحبل الله جمیعاً» عمل ونکړی، موجوده جرګی او منځګړی نشی کولی د مسئلی بنیادی حل راوباسی.

که افغانان په صداقت سره خبرو ته کښینی بحران حل کیدی شی:

(لطیف منصور)

د پکتیا والی عبداللطیف منصور وویل: کوم ظلمونه او مصیبتونه چی همدا اوس دافغانستان په مظلوم ملت نازل شوی دی په دنیا کي ساری نلری. مونږ کوشش کوو چی لومړی د لانجي علت او معلول پیدا کړو، اسلامي حکومت زمونږ د مطلق اکثریت غوښتنه ده خو د ګوتو په شمار څو کسان چی د ځان غوښتني په احساساتو کی ئی هر څه هیر کړی دی او هر څه دځان د پاره غواړی، د سیاسی بحران سره سره د وینی توئیدلو ناتار هم ټول ملت په مصیبتونو اخته کړی دی.

ده زیاته کړه همدغه مشران وو چی مونږ ئی د امر او قوماندی لاندی جهاد وکړ، خو اوس چی د اسلامی حکومت د جوړیدو وخت رارسیدلی دی، په خپلو هغو ژمنو او وعدو ئی خاوری اړولی دی چې ویل به ئی: د جهاد د کامیابیدو نه وروسته به په افغانستان کی د الله دین حاکم وي او دقرآن او سنتو په رڼا کی به حکومت چلولي شي، خو اوس خبره بر عکس ده. هر مشر ځان ته قدرت او په نورو تفوق غواړی او هر یو ځان ته من وائی:

ده وویل د مسئلی دحل دپاره پکار دی چی د ټولو افغانانو په خوښه دیوی داسی انتظامیی بندوبست وشي چی په اسلامی او ملی روایاتو برابره وی او که چیری افغانان په صداقت سره خبرو ته کونډه ووهي اوسني بحران حل کولی شی او جنګ بندولی شي.

خلک داسلامي انقلاب دپاره لویه تکیه او معنوی شتمنی ده:

(غلام روحانی)

د وردګو والی غلام روحاني وردګ وویل: د تاریخ په دی نازکه مرحله کی چی د زعامت د تاکلو په سر مرګونی مبارزه روانه ده. زما نظر دادی چی د ټول ملت سره مشوره او مصلحت وشی او په تنظیمي انحصار سره تشدد ته ترجیح ورنکړی شی .

ده زیاته کړه: سیاسی تجربو ثابته کړی ده چی خلق او ملت دانقلاب دپاره لویه پانګه او معنوی شتمنی ده، او د ملت د همکاری او ملاتړ نه پرته هیڅ حکومت نشی چلیدلی. د وردګو والی وویل: څومره چی وخت اوړی په همغه اندازه جنګونه او اختلافات زور اخلی، ددي غټه وجه داده چي د جهاد کړاونه او هدفونه مشرانو شاته غورځولی دی او د اقتدار او کرسی نیولو په سر ئی ټول ملت په ویر او ماتم اخته کړی دی.

ده ټولو افغانانو ته اپیل وکړ چی په حالاتو باندی د کنټرول په مقصد سره متحد او یو موټی شی او هر جهادی مشر چی د اصولو نه خلاف ورزی کوی په افغانی روایاتو او اسلامي احکامو سره ئی مخنیوی وکړئ.

جنګ د ټولو بد بختیو سرچینه ده

(مولوی محمد ابراهیم)

د بادغیس والی مولوی محمد ابراهیم ددعوت مجلي د خبریال دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل: اسلام چی د امن، صلحي او اجتماعی ترقی

دین دی، هماغسی اسلامي حکومت دبشری ژوندانه د ټولو اړخونو دسمون او معنویت د رغون یوازینی وسیله ګڼلی شي. دا چې اوس د جهاد د بری نه وروسته د اسلامي حکومت د جوړولو په لاره کی خنډونه رامنځ ته شوي دی او مجاهد د مجاهد او مسلمان د مسلمان ګریوان ته لاس اچولی دی ، ددښمنانو فتنی او لاس وهنی دی چی نه غواړي افغانان د اسلامي دولت په سیوری کي خپل دین او دنیا برابر کړی.

ده زیاته کړه اوس چی د قدرت په سر جنګونه روان دی او د هر کورنه سري جنازی وځی، د اسلام د دښمنانو توطیئ دی. جنګ یو داسی مصیبت دی چی د ژوندانه په ټولو چارو منفی اثرات غورځوی، اوس چی زمونږ ملك دوباره آبادۍ ته ضرورت لری، تنظیمی مشران لګیا دی جنګ کوی او په دی لړ کي هیڅ ډول شرعي حکم او قومی جرګی ته غاړه نه ږدی او د چا خبره د خره خپه ئی ټینګه کړی ده.

ده وویل چی جنګ د ټولو بد بختیو سر چینه ده او په شرعي توګه د جنګ هیڅ جواز نشته دی.

چې حکومت نشی سمبالولی خوشی دی کړی

(خان عبدالقیوم)

د خوست والی خان عبدالقیوم وویل که چیری زمونږ جهادی مشرانو د جهاد د هدفونو په رڼا کی اسلامي انتظامیه جوړه کړي وای او د چوکی او قدرت نیولو شوق ئی په اسلامي طریقه پری ایښی وای، بی له شکه چي د حکومت په چلولو کی به هیڅ مشکلات نه وو، خو اوس چی یو د بل نه ځانونه لوړ ګڼی او په حکومتی عهدو کی کار د کار اهل ته نه سپارل کیږی او تنظیمی تقسیمات او د وسلی نقش پکی برجسته دی، د حکومت کولو په ځای جنګ ته ترجیح ورکړ شوی او د عوامو په تباه کیدو پسی ئی را اخیستی ده. خان عبدالقیوم وویل: زمونږ خلکو دادی دوه نیم کاله انتظار وویست چي ګوندي مشران به د حکومت په جوړولو موفق شی، خو بد بختانه حالات زیات بحراني کیدونکی دی او د جوړ جاړي دپاره هم په پس منظر کی څه رڼا نه ښکاری. ده جهادي مشرانو او وسله بندو قوماندانانو ته خواست وکړ چی یا دی په اسلامي طریقه د خلکو د عزت، سر او مال دساتنی د پاره د ټولو د پاره دقبول وړ حکومت جوړ کړی او یا دی د چا رو واګی هغه کسانو ته وسپاری څوك چی ددي عهدي دسمبالولو استعداد او صلاحیت لری.

د مجاهدینو خپل منځي جنجالونه دی په شریعت فیصله شی

(عبدالودود)

د اروزګان والی عبدالودود زمونږ له خبریال سره په مرکه کی وویل: په تیرو دوه نیمو کلونو کی د مجاهدینو د خپل منځی جنګونو د خلاصولو د پاره ډیر کمیسیونونه جوړ شول او حتیٰ چي ملګرو ملتو هم پکی زیاتی جرګی وکړی خوتر اوسه پوری ئی هیڅ سر نه دی نیولی، دا ځکه چی زمونږ مشرانو د اسلام او شریعت لاره پری ایښی او د چوکی په سرهجنګونو اخته شوي دی.او خبره ئی دی مرحلی ته رسولی ده چي د ټولی اسلامي دنیا په وړاندی یي د جهاد او مجاهدینو وقار او ابتکار ته سخت نقصان ورساؤه او نړي‌ته ئی داسی څرګنده کړه چی ګویا مجاهدین جهاد کامیابولی شی خود حکومت جوړولو او حکومت کولو استعداد ورسره نشته. ده زیاته کړه چی اوس د جنګونو د بندولو د پاره یوه لاره پاتی ده او هغه داده چی باید یوه شرعي اداره جوړه کړی شی د ملك متبحر عالمان پکی راټول شی او د مشرانو دخلاصي دپاره شرعي فیصله صادره کړی شی.

اوسنی جنګونه د اسلامیت او انسانیت خلاف دی

(مولوي صدیق الله)

د زابل والی مولوی صدیق الله «اخونزاده» وویل: د هیواد مطلق اکثریت داسلامي حکومت جوړول او د جنګونو سمدستی بندول غواړي. خو

چاته وائی، بس جمهور رئیس او صدر اعظم په جنگ اخته دی او ملت په اور کی سوځی خو ځوك څه نشی ویلی، ځکه چی د وسلی په مقابل کی څه ویل د مرگ سره لوبی کول دی.

ده زیاته کړه: د افغانستان د آزادی نه وروسته جنگونه چی شرعاً جواز نلری د هر افغان له خوا محکوم دی خو دا تش الفاظ دی او هیڅ داسی ځواك وجود نلری چی په مشرانو او جگړه مارانو فشار راوړی چی د مسلمان وژنی او ورور وژني څخه لاس واخلی، دټول ملت عالمان او عوام چیغی وهي چی اوسني جنگونه د اسلامیت او انسانیت خلاف دی،خو هیڅوك و ر باندی غوږ نه گروی.

دکابل په سلو کی شپیته برخی ړنگی شو ی دی.

(سید امان سادات)

د هیواد د والیانو سره د مرکو په لړ کی د کابل والی سید امان سادات زمونږ د خبریال د یو سوال په ځواب کی وویل: په تیرو دوه نیمو کلونو کی چی په کابل کی کوم تمام عیار جنگونه شوی دی او لا دوام لری نه یوازي په زرهاوُ بی گناه او بي دفاع خلك پکی شهیدان، زخمیان، معلول او معیوب شوي دی بلکه په سلو کی شپیته دولتي ودانيٍ او د ښار عامه تاسیسات او کورونه هم پکی د جنگ د توپونو او مزایلو خوراك شوي دی.

ده زیاته کړه دمرگ ژوبلی سره سره د کابل اقتصادی کلا بندی د رسمي او شخصی کارو بار په ټپه دریدل، بیکاری او د شیانو قیمتی خلك د تدریجی مرگ سره مخ کړی دی.

ده وویل: کابل چی یو وخت ورته د دنیا سیلانیان راتلل اوس ئی د ورانو ویجاړو او کنډوالو نه راپور تاژونه او رپوټونه تهیه کیږي او کابل د سړی وژني په یوه سور تنور بدل شوي دی.

ده په مشرانو غږ وکړ چی جنگونه بس کړئ او د کابل د بیا رغونی بندوبست وکړئ.

قرآن او سنت دفیصلو بنیاد گرځول روان بحران حل کوی.

(قاضي غلام صادق اخوانزاده)

د کنړونو والی قاضی غلام صادق«اخونزاده» د افغانستان د روانی کشالی دحل په هکله وویل: چی قرآن او سنت د فیصلو بنیاد گرځول د افغانستان روان بحران حل کوی، په افغان مسلمان ولس مسلط شوی جنگونه زمونږ خپل اعمال دی باید الله تعالی ته رجوع وکړو او خپل اعمال، اخلاق او عقاید اصلاح کړو. هغه زیاته کړه که په ټول ملك کی د اسلامي امارت پشان شرعي اداری قايمي شوی وای نو نن به د ملك دا حال نه وای. هغه وویل: شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) د جهاد په دوران کی په ټولو مشرانو زور راوړه چی د جهاد تر څنگ عقیدوی او اخلاقي تربیه او د شرعي علومو ترویج وکړی شی، نو د افغانستان آینده به له خطر سره مواجه نه شی، مگر افسوس چی نورو مشرانو دغه غږ بدرگه نکړ او په فتنه باندی ئی مسمی کوه، نن هغه وشول کوم چی زمونږه شهید مشر ډیر پخوا د خطر زنگ وهلی وُه.

هغه زیاته کړه: که مشران خپلو مسؤلیتونو ته توجه نه کوی نو په تنظیمونو کی دریمه درجه قیادتونه دی میدان ته را ووځي او د میلیونو شهیدانو دآرمانو په عملی کولو یعنی د اسلامي حکومت تأسیس ته دی ملا وتړی،دا یوازی د هغه څو کسانو مسؤلیت نه دی چی د تنظیمونو په سرکي واقع دی، بلکه د ټولو مجاهدینو ذمه واری ده چی خپل قیادتونه اصلاح کړی او سولی ته ئی مجبور کړی.که دا نا ممکن وی نو بیا دی پخپلو تنظیمونو کی دریمه درجه صالح قیادتونه را منځته کړی،که داسی ونه شی نو د افغانستان قضیه به بیا د پردو پلاس کی پریوزی او دا ملت به یو وار بیا د مصیبتونو او ذلت سره مواجه کړي. پدی حقله دینی عالمان لوی کردار ادا ء کولای شی.

په تیر پسی

اسلامی تمدن

لیکوال: زاهدی «احمدزی»

دانبیاءکرامو تعلیمات:

داللە تعالی له پلوه دگردو مبعوث شویو بشری انبیاؤ لپاره داسلامی تمدن گردی او هر اړخیزی لار ښودنی، هدایات، دعوتی او اصلاحی مواعظ دکائناتو د رب او ایکی اللە تعالی له پلوه وو، او د ټولو چورلیځ الهی وحی وه، هغوی ددغه تمدن دگردو اړخونو په هکله قوانین په فرعی او اصولی توگه یوه کوچنی خبره هم له خپلو فکرونو او عقل څخه کړی نه ده، بلکی هغوی چی دکائناتو او دکائناتو د خالق په اړوند هرڅه ویلی دی، دالله تعالی له هدایت سره سم او دده په حکم ئی ویلی دی. اوس دلته یو څو بیلگی وړاندی کولی شی، څو دا ثابته کړای شی چی په ریښتیا هم دانبیاء کرامو تعلیمات دالله تعالی دذات او صفاتو، او د اللە تعالی د مخلوقاتو او له الله تعالی سره دکائناتو تعلق او له کائناتو سره دالله تعالی تعلق دغه راز دکائناتو حقیقت او ددوی انجام، دانسان دژوند موخه اونصب العین په هکله د وحی پر اساس دی. دغه راز داخلاقو، کورنی او اجتماعی نظامونو، اقتصادی او سیاسی نظامونو په هکله آبدی هدایات او لارښوونی، هغه هدایات او لارښوونی دی چی د الله تعالی له پلوه ورته رالیږل شوی دی.

لومړی بیلگه: د الله تعالی د ذات او صفاتو په هکله:

د الله تعالی د ذات او صفاتو په هکله پر یو لك غلیریشت زره زیات او کمو انبیاؤ چی کوم هدایات بالواسطه یا نیغ په نیغه پر هغوی باندی په نازلو کتابونو کی د اُلله تعالی له پلوه ورکړای شوی دی او بیا دغو انبیاؤ دغه تعلیمات خپلو خپلو امتونو ته ورکړی دی د الله تعالی آخری آسمانی کتاب قرآن کریم چی د گردو پخوانیو آسمانی کتابونو جامع انځورگر دی اود هغوی ناسخ هم دی داسی فرمایلی دی:

هوالله الذی لا اله الا هو عالم الغیب والشهادة هوالرحمن الرحیم. هوالله الذی لااله الاهو الملك القدوس السلام المؤمن المهیمن العزیزالجبار المتکبر سبحان الله عما یشرکون هوالله الخالق الباریٔ المصور له الاسمآء الحسنی یسبح له مافی السموت والارض وهو العزیز الحکیم»

(۱- دحشر سورت ۲۲-۲۳-۲٤ ایاتونه ٥۹ سورت ۲۸ سپاره)

الله تعالی هغه ذات چی له ده څخه پرته بل هیڅ حق معبود نشته مگر خو همدی یواځی حق معبود دی پرپټو او ښکارؤ باندی عالم دی همدغه الله تعالی خورا مهربان ډیر رحم والا چی بل هیڅ حق معبود نشته مگرخو همدی یواځی حق معبود دی، پادشاه دی، له گردو قباحتو څخه پاك دی، له گردو عیبونو څخه سالم دی، امان ورکوونکی دی، دبندگانو په اعمالو شاهدحافظدی برلاسی دی ، دویری خاوند دی ، دلوئی ښتن دی، له هغو

شیانو څخه دالله تعالی ذات پاك دی چی مشرکان یی ورسره شریکوی. دغه الله تعالی هغه ذات دی چی پیداکوونکی دی، له عدم څخه وجودته راویستونکی دی ، صورت ورکوونکی دی . همدغه الله تعالی لره نیك مخصوص عمده نومونه دی . هغه څه چی په آسمانونو کی دی او هر هغه څه چی په ځمکه کی دی الله تعالی په پاکی سره یادوی اوهمدغه الله تعالی بنه غالب دی، بنه حکمت والا دی.

د تو حید او عقید وی تعلیم دا هغه هسکه او دنگه څوکه ده چی خاتم الانبیاء محمد صلی الله علیه وسلم دقرآن په وزله بشریت ته ورکړی دی چی په بل هیڅ یو تمدن کی یی ساری او سیال نه میندل کیږی. دا هغه توحیدی تعلیم دی چی گرد مشرکانه افکار او عقائد یی له مونږ څخه ویستلی دی، او د اسلامی تمدن دا هغه اوچت تصور دی چی منونکی له هر ډول جاهلی، واهی او طاغوتی اندوډ څخه د توحید په ځلانده مشال سره د عبدیت حقیقی ډگر ته او د عبودیت وروستنی پړاو ته رسوی.

د عقیدوی تعلیم دا هغه معیار دی چی دالله تعالی د مقدس ذات او صفاتو په هکله په گروهی ډگر کی بل هیڅ یو تمدن ورته رسیدلی نشی.

دویمه بیلگه: د کائناتو د تخلیق په هکله:

د کائناتو د وجود او منځته راتلو په اړوند د انبیاء کرامو تعلیم داسی نه دی لکه څرنگه چی د حسی او عقلی مادی تمدنونو موجدینو خپلو پیروانو ته ورکړی دی او ویلی ئی دی چی دنیا او نور هرڅه طبیعت پیداکړی دی او یا پخپله منځته راغلی او موجود شوی دی، پداسی حال کی چی د کائناتو د وجود په هکله دا څومره احمقانه او له حقیقت څخه لیری تصور دی،ځکه چی یو شی څرنگه کولی شی چی پخپله خپل ځان ایجاد او بیا پناه کړی او له صانع څخه پرته موجود شی.

پدی هکله د انبیاؤ تعلیم چی د اسلامی تمدن معماران دی ، خورا معقول، منلی شوی او بی سیاله دی، او دغه آبدی تعلیم قرآن کریم داسی انځور کړی او وړاندی کړی دی:

«ان ربکم الله الذی خلق السموات والارض فی ستة آیام ثم استوی علی العرش یغشی الیل النهار یطلبه حثیا والشمس والقمر والنجوم مسخرات بامره الا له الخلق والامر تبارك الله رب العالمین». (اعراف - ٥٣)

بیشکه ستاسی رب الله تعالی دی، هغه ذات چی آسمانونه او ځمکه او هغه شیان چی ددوی په منځ کی دی په شپږو ورځوکی پیدا کړی دی، بیائی پرعرش باندی استواء وکړه، پټوی دشپی تیاره دورځی په رڼا سره چی داهره یوه هغه بله په بیړه او چټکتیا سره طلب کوی . (یعنی پربلی پسی جوخته وی او په منځ کی واټن نه لری.) اولمر او سپوږمی او ستوری ئی پیداکړی دی، پداسی حال کی چی د الله تعالی حکم ته منقاد کړی شوی دی، خبردار شئ چی خاص او یواځی الله تعالی لره پیدا کول او حاکمیت دی، لوی برکت والادی الله تعالی چی د عالمیانو پالو نکی دی په بشپړی پالنی سره.

دکائناتو دغه تصویر چی داسلامی تمدن آخری رهبرد قرآن په ذریعه انځورکړی دی د حسی او عقلی تمدنونو د فلاسفه ؤ له سفسطائی افکارو او نظریاتو څخه ډیر اوچت دی او د هغوی شکاکی اذهان ئی له پوهی څخه قاصردی. ځکه دا هغه تعلیم دی چی یوازی مؤمن نیکمرغه وگړی د ایمان او باورپه ځواك پری پوهیدلای شی. ددویمی قبل مسیح پیړی دیموکریت «ذمقراطیس » او «دیو جانس کلبی» چی ماده او طبیعت ئی خپل معبودان گڼل په پورتنیو حقائقو نه پوهیږی او نه د لامارك ،لاوازیه او داروین فرمولیتیکی وراسته ماغزه پردغوحقائقو پوهیږی.

تیوریا

د قاهرې کنفرانس

لعل محمد «أفسوس»

د نړۍ کفري ځواکونه همیشه پدې فکر او هڅه کې دي چې مسلمان امت له کومې لارې څخه اوڅه ډول کمزوري کړي چې خپل راج پرې بر قرار وساتي او وینې زوې یې استحصال کړي. په دې لاره کې نړیوال کفر له هر ډول حربې او چال څخه کار اخیستی دی، کله مسلمانان د اقتصادي فشار په متروکه وهي او کله ورته د بنیاد- پرستۍ او دهشت گردۍ په جرم څپیړه ورکوي. د مسلمان امت له دغه ډول جرائیمو څخه یو بل هم د مسلمان ملت د نفوسو د زیاتوالي جرم دی چې نن یې کفري ځواکونه او بالخصوص ټول لویدیځ په تعجب کې غورزولی دی.

د روان میلادي کال د سپتمبر دمیاشتې له پنځمې نیټې څخه د سپتمبر د دیارلسمې نیټې پورې د مصر په مرکز «قاهره» کې د ملگرو ملتونو له خوا یو کنفرانس دایر شو. ددې کنفرانس اجنډا "په تیزۍ سره د نړۍ د نفوس زیاتوالي او پرمختگ" وُه، په دې کنفرانس کې ملگرو ملتونو د خپلو ټولو غړو هیوادونو له نمایندگانو څخه د گډون کولو غوښتنه کړې وه، په دې کنفرانس کې د اسلامي هیوادونو له جملې څخه سعودي عربستان، بنگله دیش، ترکیې، سوډان، او لیبیا د بایکاټ اعلان وکړ. د قاهرې د کنفرانس اصلي مقصد په یوه داسې مسوده غور کول وو چې په اسلامي هیوادونو کې زنا او همجنسیت ته د قانوني شکل ورکولو لاره هموارہ کړي او د دې کار په وړاندې حایل مذهبي خنډونه له منځه یوسي.

د نمونې په ډول ددې کنفرانس یو څو ټکې داسې دي چې:

* اسقاط حمل ته قانوني شکل ورکول.
* هر هیواد د حمل ضد داروگان براېرول چې په هر روغتیایي مرکز کې په اسانۍ سره لاس ته راوړل شي.
* د اولاد د زیږوني اختیار ښځې ته ورکول.
* په ښوونځیو کې ماشومانو ته جنسي زده کړه ورکول.
* د جنسي تسکین لپاره پرته له وادهٔ کولو نورې آساني طریقې عیارول چې بې له وادهٔ انسان وکولی شي په رضامندۍ سره جنسي میلان وکړي.

د نمونې په ډول دا هغه څه دي چه د اسلام مقدس دین په تمامه معنی دغسې نا مشروع او غیر اخلاقي کړنو ته د رد په سترگه گوري. ددې ډول منصوبې د جوړولو پوسیله چې تر شایې د سامراجیانو سیاسي اغراض هم پټ دي کیدای شي چې د ایډز مهلکه ناروغي دریمې نړۍ ته نقل کړي.

ملگرې ملتونه هغه سازمان دی چې ځان د نړۍ د ټولو ملتونو او قومونو د انصاف او عدل علمبردار او د بشر د حقوقو د ساتنې ذمه وار گڼي، مگر اوس د بشریت د دیرښت مخنیوی کوي ا و بشریت پخپله له منځه وړي. په

دی موضوع یو کنفرانس ملگرو ملتونو په(۱۹۸٤م) کال په مکسیکو کی هم جوړ کړی ؤ، مگر دا کنفرانس چی له یوی خوا ورته د یو اسلامی هیواد مرکز (قاهره) انتخاب شو او له بلی خوا ورته د یو بل اسلامی هیواد (پاکستان) یوه میرمن ډاکټره «نفیسه صادق» دصدارت کولو لپاره انتخاب شوه، د ډیر سوچ او فکر وړ دی، دا ولی؟ او څنگه؟

د نړی د مسلمان ملت لپاره لازم دی چی د لویدیځ له خوا مسلمان ته اېښودل شوی دام په پوره زیرکتیا او ویښ ضمیر تعقیب کړی او پدی و پوهیږی چی ملگری ملتونه داسی ولی کوی؟ دا ددی لپاره چی یو خو قاهره د یو اسلامی او عربی هیواد مرکز دی چی دا د عربو د اخلاقی بی لاریتوب لپاره اهمیت لری او له بله پلوه دا د مسلمانانو لپاره هغه ښار دی، په کوم کی چی د اسلامی تعلیماتو تر ټولو لوی او قدیمی مرکز یعنی د «الأزهر» لوی پوهنتون واقع دی او د مسلمانانو لپاره ډیر اهمیت لری. له دی سره سره د قاهری د انتخاب تر شاد لویدیز صهیونیستان یوه سیاسی حربه هم لری او هغه دا چی په دی هیواد کی به د «حسنی مبارك» پر ضد د مسلمانانو قهر را وپاروی او په مصر کی به سیاسی اړی کړی را-منځته شی او همدا رنگه د پاکستان د نفیسه صادق صدارت په دی خاطر منتخب شوی ؤ چی د یو مسلمان پوسیله د بشری نسل د له منځه وړلو زهر ترزیق کړی، تر څو د لویدیز شیطانان د مسلمانانو له ښکاره قهر او الزام څخه بچ پاتی شی.

ددی کنفرانس د انعقاد پر ضد نه یوازی مسلمانانو بلکی د نړی د مختلفو عقیدو پیروانو خپل مخالفت څرگند کړی دی، د اسرائیلو دبهرنیو چارو وزیر «شمعون» له خپلو یهودیانو څخه دزیات اولاد د تولدولو غوښتنه کړی ده او ددی کنفرانس دمضمراتو مخالفت یی کړی دی، د عیسایی مذهب پیروانو هم ددی کنفرانس په خلاف احتجاج کړی او د روم «پوپ جان پال» دا د یوی کورنی تباهی گڼلی ده، ددی کنفرانس له انعقاد څخه مخکی د جون د میاشتی په ۸ نیټه په واتیکان کی د تجویز شوو موضوع گانو په باب پاپایی کونسل برای مکالمه بین المذاهب ، د واتیکان دری لوړ رتبه افسرانو ، رابطه عالم اسلامی، ارگنایزیشن اف اسلامك کانفرنس او موتمر العالم الإسلامی دا کنفرانس مسترد کړی دی . د (UNI) د خبری آژانس د وینا له مخی د امریکا د پارلمان د (۷۰) نه زیاتو غړو چی ځانو ته ژوند خوښوونکی وایی، ددی کنفرانس مخالفت کړی دی. ښاغلی «کرسټو فراسمت» وایی چی په امریکایی ټولنی باندی د دا ډول نسل کشی ډیر بد اثر پریوتی دی، اوس د «بل کلینټن» انتظامیه غواړی په هر حال چی وی دا کار د اروپا او دریمی نړی په هیوادونو د «نیو ورلډ ارډر» او I.M.F د اقتصادی دباؤنو په زور ومنی چی دا د سامراجیت یوه ښکاره نمونه ده. د لویدیز مطبوعات دا نتها پسندو مسلمانانو له طرفه دا هم وایی چی د مسلمانانو په نزد د خاندانی منصوبه بندی هر ډول طریقه گناه او د فطرت یو خلاف عمل دی. ښاغلی «امین هویدی» چی یو مصنف دی، د سعودی عربستان دیوی ورځپاڼی «شرق الأوسط» په یو چاپ شوی مضمون کی لیکی چی د ۱۹۹۲م کال د «ریوډی جیزو» د ځمکی د کُری په کنفرانس کی د قاهری دکنفرانس مسوده تیاره شوی وه، دا د دریمی نړی او په خاص ډول دمسلمانانو هیوادونو په خلاف یو ژور سازش دی، دلویدیز مکاران په دی پوهیږی چی ورځ په ورځ د مسلمانانو تعداد په زیاتیدو دی، چی نن په نړی کی تقریباً هر پنځم نیم یا شپږم کس مسلمان دی، نو په دی خاطر دمسلمانانو د زیاتیدو د مخنیوی کوښښ کوی چی نسل وژنی ته یو قانونی شکل ورکړی او د همجنسیت غیر اخلاقی اور ته لمن ووهی، ښاغلی هویدی زیاتوی چی ددی ډول سازش تر شا اصلی طاقتونه امریکا، اروپا ا واسرائیل دی، ددوی اصلی مقصد ددریمی نړی تس نس کول دی او د مسلمانانو د زیاتیدو مخنیوی دی، ښاغلی هویدی لیکی

چې د لویدیځ پوهان دا عقیده لري چې اصلي ایتم بم په نړۍ کې دمسلمانانو اکثریت دی، هویدی ددی کنفرانس د اعلامیې په حواله زیاتوي چې ددی کنفرانس مقصد اسقاط حمل ته په نړۍ کې قانوني شکل ورکول ، ځوانې طبقې ته د جنسي بې لاریتوب اود والدینو یا د کورنۍ د یو بل له نیگرانۍ څخه آزاد ژوند تیرولو ته قانوني اجازت او زمینه برابرول دي.

صهیونستي ځواکونه ظاهراً دبشري تولنې د غولولو لپاره داسې د لایل وړاندې کوي چې زراعتي ځمکه د مخ په زیاتیدونکي نفوس لپاره ناکافي ده او دا استطاعت نلري چې له دې شمیر څخه د زیاتو خلکو غذائي مواد تولید کړي، د خانداني منصوبه بندۍ د فلسفې یو ماهر «مالتوس» چې دغه نظر لري مگر له نوو ساینسي تحقیقاتو څخه چې «پلانټ بریډنګ» او د نباتاتي جینیاتو (Plant Genetics)ځانگې کړي دي، څرگندیږي چې د «مالتوس» او یا نورو صهیونیستي ماهرینو نظر بالکل غلط او د یقین وړ نه دی، ځکه چې د ذکر شوو زراعتي تحقیقاتو ځانگې دا ثابته کړې ده چې ځمکه له دې څخه نور هم زیات دا استطاعت لري چې داسې فصلونه زرغون کړي چې هغه نه یوازې له دې مقدار څخه زیاتوالی وکړي بلکه د موسمي اثراتو او ناروغیو په مقابل کې زیات مقاوم او دمدافعت د قوت صلاحیت هم ولري. د تیرو دوه نیمو پیړیو ساینسي تحقیقاتو او تجرباتو د مالتوس غوندې خلکو نظر چې د زرعي ځمکو په هکله یې لري، رد کړی دی. د(۱۹۸۰) م کال د لسیزې نه را په دیخوا د F.A.O (د خوراك او کرنې سازمان) دا جایزه اخیستې چې په نړۍ کې د یو عام انسان د ورځې (۲۳۵٤) کالوري خوراك ته ضرورت دی او په نړۍ کې د یو کس په سر د ورځې (۲٤۲۰) کالوري خوراك تولیدیږي او همدا رنگه په طبیعي ذرایعو کې دا صلاحیت موجود دی چې له دې څخه څو واري زیات حاصلات تری په لاس راشي. ددې پوښتنې په ځواب کې چې ایا په نړۍ کې د انسان په تناسب د خوراکي اجناسو کمې شته که نه؟ ددې پوښتنې په ځواب کې د (۱۹۹٤م) کال د ستمبر دمیاشتې د «عالم اسلام او عیسایت» مجله داسې لیکي:

د امریکا متحده ایالات د غذایي موادو د نرخونو د لوړولو په خاطر خپلو بزگرانو او دهقانانو ته دا حکم جاري کړي چې خپلې ځمکې له ټاکل شوې اندازې څخه زیاتې مه کري. په ۱۹۸۳م کال امریکایي بزگرانو ۸ کروړه او ۲۳ لکه هکتاره زراعتي ځمکه پدې غرض دفصل لپاره استعمال نه کړه چې د غنمو، وریجو او جوارو نرخونه په نړیواله سطحه اوچت شي او امریکایي پانگوال نظام په نورو نادارو هیوادونو خپل راج قایم کړي.

امریکا او نور اروپایي هیوادونه غواړي مسلم ممالك په اقتصادي پنجه کې راگیر کړي او ددې کار د ترسره کولو لپاره له څومره مکر او فریب څخه کار اخلي، پخپله د خوراکي اجناسو مصنوعي قلت پیدا کوي او نړۍ ته د وسایلو د کمې ونډوري غږوي او غریب ممالك د اقتصادي مجبورۍ له کبله د خانداني منصوبه بندۍ په لومه کې ځان ترلو ته تیاروي.

د لویدیځ د صهیونیستي مکارانو هغه کینه او بغض چې د دریمې نړۍ له نادارو او غریبو هیوادونو سره ئې لري، دوی نه غواړي چې ددې هیوادونو سره غیرمشروطي مرستې وکړي،دوی له خپلو ضروریاتو څخه اضافي غله له منځه وړي، مگر له یو نادار هیواد سره غیر مشروط لاس امداد نه کوي، د مثال په ډول یې یو څو بیلگې د گرانو لوستونکو په خدمت کې وړو:

په ۱۹۸٤م کال کې په اروپا کې پنځوس ملیونه ټنه غله موجوده وه او ددې غلې په ستهور کولو او یا ضایع کولو ئې لس اربه او څلویښت کروه روپۍ مصرف کړې.

یوازې په برطانیه کې په کال ۱۹۸۵م کې (۵۲٤۳۰) ټنه د غواګ غوښه په سټوورونو کې اضافه پرته وه، هر کال په لویدیزه نړۍ کې په میلونونو ټنه غله یا خو په اور

وسوزل شي او یا یې په بله طریقه تباه کړي او له منځه یې یوسي. په برطانیه کې یوازې دوه سوه داسې سټورونه وجود لري چې په هغو کې اضافه خوراکي مواد لکه غوښه، کوچ، شیدې، او غله دانه لکه غرونه امبار شوي وي.

ددې نه معلومیږي چې په نړۍ کې د وسایلو او خوراکي موادو کمې نشته، مګر ترقي یافته او سرمایه دار هیوادونه دا غواړي چې د همیشه لپاره د مستضعفو طبقو د ژوند بقاء استحصال او په ژوند ئې لوبې وکړي.

ددې کنفرانس مفردات که له یوې خوا د بشري ټولنې په اخلاقي اړخ بد اثر کوي نو له بلې خوا د انسان په ژوند هم بده آغیزه کوي او انساني صحت له ډول ډول خطراتو سره مخ کوي او د هر قوم د بقاء لپاره یو لوی خطر ګڼل کیږي. د روغتیا یې ماهرینو وینا ده چې د حمل ضد داروګان «Cantraciptive» او یا نوري طریقې استعمالول د ښځې د هورمو نونو د عدم توازن سبب ګرځي او ښځې په طبیعي او نفسیاتي ناروغیو اخته کوي، همدارنګه د رحم د سرطان «Cancer» یو سبب د حمل ضد داروګان او ذریعې دي چې بالاخره د مرګ سبب ګرځي. ددې ډول دواګانو استعمال د انساني ژوند د بقاء د کروباتو په کیمیاوي او طبیعي ترکیب بد اثر کوي، همدارنګه په کروموسومز ددې ډول دواګانو اثر د جین د خرابۍ سبب جوړیږي، په کرومې قناتونو او حیاتیاتي کوډ «Genetic Code» اثر کوي او موروثي خطرناکې ناروغۍ منځته راوړي او د همدې داروګانو په استعمالولو سره د ځینې کروباتو په کیمیایي تعامل کې ځنډ هم راځي او دغه متاثره شوي جیني کروبات د راتلونکې اولاد یا د اولاد داولاد د جسمي عوارضو سبب ګرځي او تر ټولو مهلک اثر یې زنا او جنسي جرایمو ته وده ورکول دي، د ښځې او خاوند ترمنځ د ښځې توب او میړه توب مقدس تړون له منځه تلل او یا اولادونه کمول د یو انسان مسئولیت او ذمه واري له منځه وړي او له دې امله په ټولنه کې د طلاقونو په عمل کې زیاتوالی راځي.

له دې نه معلومه شوه چې د طبیعي قوانینو په پابندۍ کې چې د فطرت کوم توازن قایم دی، که په دې فطرتي توازن کې ګډوډي رامنځته شي نو روغه اوسالمه ټولنه له منځه وړي، لویدیز اوصهیونستان غواړي چې ددې ډول شیطاني کنفرانسونو په ذریعه اسلامي ټولنه کمزورې او له منځه یوسي، ددې ډول کنفرانسونو اصلي هدف د ایډز د مهلکې ناروغۍ خپرول، اقتصادي غلامي، کورنۍ تباهي او د حرامي اولادونو زیاتوالی دی، د یوې اسلامي ټولنې لپاره کومه نیکه او مثبته نتیجه ترې لاس ته نه راځي.

که د لویدیز صیهونستان هرڅومره چیغې ووهي چې د نړۍ د نفوسو د زیاتوالي په وجه وسایل کمیږي، خو تاریخي شواهدو دا ثابته کړې ده چې څومره انسانان زیاتیږي په هماغه اندازه وسایل کثرت مومي، الله تعالی مسلمان امت ته په دې باب داډګیرنه ورکړې او فرمائي:

ولا تقتلوا اولدکم خشیة إملقٍ نحن نرزقهم و إیاکم إن قتلهم کان خطاءً کبیراً(سورة بنی اسرائیل - ۳۱)

ترجمه: د لوږې له ویرې خپل اولادونه مه وژنئ، مونږ دوی ته هم روزي ورکوو او تاسو ته هم، که تاسو هغوی (له دې ویرې) قتلوئ، دا ګناه لویه ده.

نن سبا د الیکترانیک میډیا په ذریعه دا اشتهارات ډیر زیات شوي چې زیات اولادونه جنجال او مصیبت دی، ځکه وسایل کم او مسایل زیات دي، مګر دا خبرې او په دې خبرو یقین او باور کول د الله تعالی له حکم څخه سرغړونه ده او د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم خلاف د جنګ اعلان دی، که چیرې مسلمانان دا ډول سرکښ روش او یقین بدل نه کړي الله تعالی به د پخوانیو سرکشو قومونو په شان دوی ته هم عبرتناکه سبق ورکړي.

(والله غني عن العالمین)

روانډا

د ابو ولید لیکنه

که انساني تاریخ ته وکتل شي نو د سیاسي رسه کشۍ او زور زیاتي له وجې په کې د هجرتونو لړۍ روانه ده، خو د روانډا خانه جنګي او خپل منځي جګړو چې کوم زړه دردونکي حالات رامنځته کړي د هغې مثال په اوسني عصر کي کم لیدل کیږي.

د روانډا اوسیدونکي په هغه هیواد کي د خپل منځي جګړو له امله دي ته مجبور شوي چې د ګاونډي هیواد زائر سرحدي سیمو ته هجرت وکړي. دغه مهاجرین نن سبا د ګوما او کیمیا د مهاجرینو په کمپونو کي د هجرت ډیري ناوړه او د هر نوع تکالیفو سره شپې ورځې سبا کوي. په دغو کمپونو کي هره ورځ تقریباً دوه زره کسان په مختلفو اوبائي امراضو خپل ژوند له لاسه ورکوي.

ویل کیږي چې د یوي احصائي ترمخه کوم کسان چې په دغو دوو کمپونو کي له منځه ځي، د لمړۍ او دوهمي نړیوالي جګړي په تناسب ئي شمیر څو چنده زیات دي.

دنیوزویک نومي انګریزي مجلي خبریال«جوشواهمیره» ددغو دوو کمپونو تفصیلي لیدنه کتنه کړي، راځي وګورو چي د نیوزویک نماینده پدغه باب څه وائي.

زه د سهار په اتووبجو د ګوما کمپ ته ورسیدم، د مرګ او ژوند یوه عجیبه ننداره مي ولیدله، زه چي څه وخت هلته ورسیدم تقریباً اته سوه مړي په یوه قطار کي د خښیدو لپاره په ځمکه پراته وو، ددغه قطار اوږدوالي

تقریباً یو کیلومتر ته رسیده، څه مړي په کمبلو او سترڅو کي نغښتلي او څه مړي د پنځو ورځو راهیسي بې کفنه پراته وو، بل خوا د روانډا په زرګونو مهاجرین لګیا وو د خپل ژوند د اړتیا څیزونه ئي په ډېر اطمنان سره اخستل او بې د کومي ویرې او ترهې به ئي په دغو جسدونو یو نظر واچوۀ، زما په شان هغوي له دي منظر سره څه نااشنا نه ؤو. بل خوا په دغو حالاتو کي یو موچي په ډېر اطمنان سره څواړه بوټان ګنډل. زه د هغه څنګ ته ورغلم او پوښتنه مي تری وکړه.

آیا پداسي حالاتو کي چي په سونو مړي دي شاوخوا پراته دي ستا زړه غواړي چي خپل کسب ته دوام ورکړي؟ هغه په مسکي انداز ځواب راکړه، تا صرف یوه ورځ دا حالت ولیدلو ځکه درته دغه منظر عجیبه ښکاري، مونږ دغه حالت هره ورځ ګورو ځکه ورسره عادي شوي یو او بیا تر کومه به دغه حالاتو ته لاس په زنه ناست یو، څه کار کول خو هم غواړي.

وروسته زه یو صحي امدادي کمپ ته لاړم، ډېره تیزه هوا چلیدله او په زرګونو ښځي، ماشومان او سپین ږیري د ژوند او مرګ په کشمکش کي د ډاکتر د راتلو په انتظار پراته وو. یو ماشوم چي د هضمي مریض ؤ د خپلي مور په غیږه کي بې حاله او د کوما په حالت کي پروت وو، مور ئي په چغو چغو ژړل خو د هغې په سترګو کي اوښکي نه وي ځکه هغې به یو ځل د مړو هغو اوږدو اوږدو قطارونو ته کتل او بیا به ئي خپل ماشوم بچي ته.

چي څه ساعت وروسته به زما بچي هم پدغه قطار کي شامل شي. دغه ماشوم به په ډېره مینه او د کومك په امید خپلي مورته سترګي راواړولي خو ناچاري مور به د فریاد او چغو نه علاوه د هغې سره هیڅ نه شو کولاي.

څه ساعت وروسته د خلکو یوه ډله د صحي کمپ نه چاپیره شوه او په چغو شول، مونږ له اوبه راکړي،مونږ له اوبه راکړي،د کیمپ کارمندانو هغوي له ډیکي ورکولي او ورته ئي ویل چي دا اوبه صرف د هضمي او د پیچش د مریضانو لپاره دي.

باید وویل شي چي اوبه ددغه کیمپ نه تقریباً شل کیلو متره لري دي، د صحي کیمپ کار کوونکي صرف

ددغه اوبه رارسولي شي چي مریضانو ته کفایت وکړي او بس.

د خلکو او کار کوونکو ترمنځ دغه کشمکش ترڅه وخته روان ؤ او بیا خلك مایوسه ستانه شول. په نهه بجو ډاکتر راغي او په سیروم لږولو ئي شروع وکړه، ما ډېر مریضان ولیدل چي د سیرمو ډراپونه ئي په لاس کي ؤ او مړه شول.

ماسپښین د ملل متحد یوه بله ډله هلته راورسیده او د مړو د تدفین لپاره ئي انتظامات شروع کړل، هغوي ماسکونه (نقابونه) په سر کړي وو او دست کشي ئي په لاسونو کي وي.

ټول مړي ئي یو ګاړي کي واچول او یو میدان ته ئي راجمع کړل، دغه کار په ډېره چټکې اوبې احتیاطې سره په مخ روان وو، په دغو مړو کي ما یوه ښځه هم ولیدله چي امیدواره وه.

وروسته ئي یو بلډوزر راوستلو او دغه مړي چي تعداد ئي زرو کسانو ته رسیده، په دسته جمعي ډول ښخ کړل. دغه بلډوزر څه ساعت وروسته پداسي حالت کي خپل کار بس کړو چي څه مړي د خاورو لاندي شوي ؤ او څه مړي نیم ښکاره ؤ، دوهمه ورځ زه بیا دغه صحي کیمپ ته راغلم او د یو فرانسوي ډاکتر نه مي چي «جین چارلس نومیده» پوښتنه وکړه چي د مهاجرینو حالت څنګه دي؟ هغه ځواب راکړه د نورو ورځو په تناسب نن ورځ ډېره ښه ؤه، نن ټول اته تنه مړه شول او تیره ورځ صرف څلور سوه کسان مړه شوي ؤ. مازدیګر مونږ د کیمبا د کیمپ څخه د ګوما د کیمپ په لور روان شو، د لارو په اوږدو کي مونږ د مړو نه ډکي لارې،ولیدلي چي په سرکونو کي اوښتي وي او مړي خواره واره پراته وو او د ملل متحد کار کوونکي هم سخت

ټپيان شوي ؤ.

اوس سوال دا پيداكيږي چي د روانډا ددي ناوړو حالاتو اصلي مسؤلين څوك دي، آيا دا په اصل كي د هغه هيواد د اكثريتي «هوتو» او اقليتي «تتسي» قبائلو ترمنځ جګړه ده؟

حقيقت دادي چي روانډا دا دواړه قبيلي د خپلو بهرنيو بادارانو په اشاره د يو بلويني تويوي او دغه بهرني لاسونه د خپلو مقصدونو د حصول په خاطر دغه دواړه قبيلي په خپلو كي جنګوي.

د لمړي لوي نړيوالي جګړي نه تر مخه روانډا د جرمني په تصرف كي وه، خو د دغه جګړي نه وروسته روانډا او بروانډا باندي د بلجيم كنټرول حاصل شو. د بلجيم حكمرانانو ښكاره او په ډاګه د اقليتي (تتسي) قبيلي د حمايت اعلان وكړو او هغوي ته ئي په اكثريتي (هوتو) قبيلي فوقيت وركړو او ددغه فوقيت لويه وجه داوه چي «تتسي» اقليتي قبيلي رنګ سپين او غربيانو ته ورته رنګ ؤ يعني سپين پوستكي ؤ.

د كال ۱۸۸۹ نه تر كال ۱۹۹۲ عيسوي پوري (تتسي) قبيلي د هيواد واګي په خپل كنټرول كي واخستلي او د هيواد په ټولو مهمو پوستونو لكه تعليم، زراعت، تجارت او نورو وزارتونو ئي د تتسي قبيلي كسان مقرر كړل.

په کال ۱۹۵۹ کي چي کله د «هوتو» قبيلي بغاوت اعلان کړو نو د «تتسي» قبيلي خلکو د هغوي د مخنيوي کوشش وکړو. په کال ۱۹٦٤ کي چي څه وخت د روانډا د آزادي اعلان وشو د« تتسي» قبيلي دا خبره محسوسه کړه چي اوس مونږ د اکثريتي قبيلي (هوتو) سره يوځاي پاتي کيدي نه شو.

په کال ۱۹٦٤ کي هغوي مجبور شول چي د روانډا نه هجرت وکړي او يوګنډا ته راشي.

په دغه دوران کي د «هوتو» قبيلي اقتدار ورځ په ورځ مظبوط کيده. بيا په کال ۱۹۹۰ د «تتسي» قبيلي مهاجر اوسيدونکي د يوګنډا نه روانډا ته راغلل، ددوي په راتګ د هوتو قبيلي خلکو هيڅ قسمه مزاحمت ونکړو، مګر د تتسي قبيلي خلکو د «روانډا پيټرياټك فرنټ» په نامه يو تنظيم جوړ کړو او په مسلح جدوجهد ئي پيل وکړو او په ټول هيواد کي د خانه جنګۍ اور بل شو. د روانډا حکومت نه غوښتل چي د هغوي سره د جنګ ميدان ګرم کړي او په همدي وجه په کال ۱۹۹۳ عيسوي د دواړو قبيلو ترمنځ د صلح يوه معاهده وشوه، د دغي معاهدي ترمخه دواړو قبيلو يو مشترك پوځ جوړ کړي شو او دغه پوځ ته ئي د امن راوستلو وظيفه ورکړه، خو متأسفانه دغه معاهده تر ډيره وخته پاتي نه شوه او د روان کال ۱۹۹٤ د اپريل په مياشت کي د يوي خونړۍ جګړي يو نوي باب شروع شو.

په دغه دوران کي د روانډا د جمهور رئيس «همياري مانا» طياره په کيګالي کي وويشتلي شوه، په دغه پيښنه کي د هغه نه علاوه د ګاونډي هيواد سپرائن جمهور رئيس «نارياميرا» هم مړ شو، د هوتو قبيلي دغه پړه د

تتسي قبيلي په افرادو وروا ړوله او ددغه حادثي نه وروسته خونړي فسادات پيل شو. ددغه خانه جنګۍ نه د آر- پي- ايف مشرانو فايده اوچته کړه او د هيواد ټول اختيارات ئي پخپل کنټرول کي واخستل او د هوتو قبيلي خلك ئي د هيواد نه هجرت کولو ته مجبور کړل.

ای مشرانو!

کـــــــاف لام

ای مــشرانــو عزیزانو تاســو ټولــو ته سلام دی
لــږ په وړاندی نظر وکړئ دښمن ایښی درته دام دی
ددی جنــګ موجبه څه ده لږ عـــلت ئی راواضح کــړئ
نــور راتلونکی زمانی ته ټول تاریخ زمــونږ بـدنـام دی
دا پـه څه افغانان وژنــو دا په څه ورانوو کور خپـل
دنیا وال راته حیران دی چی دا څـه لـیونی قام دی
نه پـــخپله ئی جــــوړوی شــونه د بــل خـبره اورو
همداحــال که دوام ئــومی بـدتــرین زمــونږ انجام دی
وطن وران ملت تباه شو نور تری څه غواړی ای ورونو
لا مــو خــوا پری یخه نده د مــرمیو پری دوام دی
کـوم قانون به ددنـیا وی کــوم اصــول د انــسانیت دی
چــی عفت عـزت مــی دواړه هم می سر اومال لـیلام دی
دا په کوم قانون راغلی وطــن وران مــلت به وژنئ
بــی سببه بی موجبه هــر انسان پکی بـدنام دی
بیــا د لوږی نه قــام وژنه تــولی لارې دی وی بــندې
هم په مخکښی ئی ورته ایښی د سرو وینو نه ډ ك جام دی
د دنیا ټول ملتونه شپه او ورځ په کار مـصروف دی
زحـمت کښو ملتونو نن دنـــیا کی او چت بـــام دی
چا چی وکــړل خدمـتونه خـپل وطـــن او قام لــپاره
نن د هــغه رهبرانو په تـــاریخ کــی پـــورته نام دی
ای کـــابله ګناهګاره په تــا ئی خوا لا یـــخه نـــده
ستا په غیږ کی مرګ روان دی هر بچی دی نن سرسام دی
بشـریـت راتــه حــیران دی انسانیت راتــه نــن ژاړی
هم حیران دریان ولاړدی لاس ترزنې «کاف» او «لام» دی

دایو فریاد

لعل محمد
«افسوس»

ددې فریاد ځواب خاونده ستا لــه در غــواړمه
پــه خــپــل هــیواد کې درنــه سولــه سراسر غــواړمه
دا د نــفاق جــنازه لیرې کــړه کــنده شوه نــوره
د اتــفـاق ډولــی دنــنــه پــه دې ور غــواړمــه
په پاك اسلام راسینکار شوې ناوې غــواړمه زه
پــه سور پالنګ ورتــه ثاني د یو عمر (رض) غواړمه
چــې بلــبلان په کــې نــغمې د آزادۍ ووایی
شــیــن پســرلــی درنــه پــه ســمه او په غر غواړمــه
د یتیمانو کونډو اوښکې نورې وینې شولــې
د رحــم لاس یــتــیــم او کــونډې تــه پــه سر غواړمه
ما د هیواد کنډر کنډر کلی کې ساه تــه پــریښوده
زه نــه «لــنــدن» نــه «واشنګټن» نه «پیښور» غواړمــه
په نیــمه خــیټه په ځړه شرېبه صبر کــوم
د چــا...! په شــانې درنــه زه نــه سیم و زر غــواړمــه
زه نه ډالــر نه ریالونه نه پونــډونه غــواړم
زه د هــیواد سرتورو کونډو تــه څادرغــواړمــه
مــنزل نزدې دی څو تــیاره ده زه ورتــللی نه شم
حیران ولاړ په نــیــمه لار کــې سپین سحر غــواړمه
ددوی...! له خیره می توبه خو له دې سپو می خلاص کړی
خــاوری بــه خــورمــه خــو د خپل وطن مقر غواړمه
دایو فــریاد درته «افسوس» د زړه له سوزه کــړمــه
روڼ ســباون د ســوکــالۍ ته درتــه لــر غواړمــه

ورووستی برخه

د دین مفهوم

مرحوم کلیم الله «متین»

دلته دا یو مطلب باید په نظر کی ولرو چی قرآن او اسلام نه غواړی چه یوازی او یوازی د قصاص په وسیله په ټولنه کی د قتل او ډاکی اچولو مخه ونیسی او یوازی په قصاص اتکاء وکړی اوبس. بلکه اسلام لکه چی په تیرو کړښو کی مو لیکلی دی د اقتصاد د بهتر کولو له مخی د ټولنی څخه د فقر او مسکنت کمبله ټولول غواړی،له ثروتمندانو او بدایانو څخه زکوة اخلی او حاجت مندو او مسکینانو او پوروړو ته ئی ورکوی بلکه مالدارانو ته وائی چی ستاسو په مالونو کی د محرومو او بی وزلانو حق دی او ددغه حق د ورکړی توصیه کوی چی په ټولنه کی لوږه او فقر ورک شی او څوک غلا او د خپل همنوع قتل ته مجبور نه شی. همدغه شان په اسلامی اخلاقو او تعذیری حکمونو او حدودو سره په جامعه کی د فساد مخه نیول غواړی او ترڅو چی ټولنه د اقتصاد، اخلاقو، سوداگری او کار برابرولو له لیاری په خپل ځان متکی کیږی او فساد پخپله له منځه ځی، تر هغه د فساد او انسان وژنی مخنیوی د قصاص له لیاری توصیه کوی. البته دلته بیا هم د قصاص په حکم کی ورسره جوخت دا حکم هم کوی، که چیری څوك د قاتل سره چی قرآن بیا هم د مقتول د وارث د انسانی ورور په صفت یاد کړی دی، عفوه او مراعات کولو ته تیار شی، نو محکمه به د قاتل په قصاص کولو او اعدام باندی اسرار نه کوی، بلکه قاتل به په ښه او رښتینی طریقه خون بها (د وینو تویولو حق) ورکوی او د خصمینو تر منځ به سوله کیږی.

او دیو انسانی ځان د وژلو په بدل کی بهدیل انسانی ځان له منځه نه ځی، بلکه اصلاح به ئی کیږی، او د الله حق چی محکمه ورته (حق الله) وایی د وخت د اسلامی حکومت له خوا په ځای کیږی چی هغه د قاتل لپاره یوه اصلاحی جزاء ده چی ددوهم ځل لپاره بیا د جرم د تکرار جرأت ونکړی.

ددی سره چی په ټولنه کی د غربت او لوږی د مخنیوی لپاره د زکوة، صدقات او میراث او نورو اقتصادی ستونځو د لری کولو لپاره اهتمام او انتظام کوی، په ټولنه کی د غلا، خیانت، سود او په باطلو طریقو او ناوړه لارو چارو سره پخپلو منځو کی د ټولنی د غړیو د مالونو د خوړو او غصب کولو د مخنیوی لپاره سپارښتنه کوی او د جرم د مخنیوی او د خیانت د له منځه وړلو لپاره حدود او تعزیرات ټاکی چی انسانی ټولنه له خیانتونو، بی عدالتیو، غلاؤ، غلطیو او د هر ډول بی اطمنانه ژوند څخه په امان او مصئونه وی او هرڅوك په خپل چاپیریال کی د مصئونیت او اطمینان ډاډه ژوند وکړی شی.

په غلاء باندی د لاس پریکولو حکم چی ددی دین په قانون کی

راغلی دی د المائده د سورة په ۳۸ آیت کی داسی بیان شوی دی.

والسارق والسارقة فاقطعوا ایدیهما جزاءً بما کسبا نکالاً من الله والله عزیزٌ حکیم.(المائدة-۳۸).

«او غل چی نارینه وی او که ښځه لاس ئی پریکړئ، دا دهغوی د گټی او د کسب جزاء ده او د الله تعالی له خوا عبرت ورکونکی جزاء. د الله تعالی قدرت په هرڅه باندی دپاسه او غالب دی»

د آیت د حکم څخه څرگنده ده چی دواړه لاسونه نه بلکه یو لاس دي تری قطع کړی شی او د امت په دی خبره باندی اتفاق دی چی د لومړی ځل لپاره په غلاء دی ښی لاس پریکړی شی. نبی صلی الله علیه وسلم ددی حکم په تصریح کی فرمائی چی،"لا قطع علی خائن" له دی نه معلومیږی چی د سرقی اطلاق په خیانت نه کیږی یعنی غلاء د ټګئ په څیر نه ده بلکه لاس پریکول یوازی د غلاء جزاء ده او هغه دا چی یو څوك د چا مال د هغه له ساتنی او حفاظت څخه وباسی او پخپله وریاندی قابض شی.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم دا هدایت هم فرمائی چی دیوه ډال له بیی نه د لږمال په غلاء لاس نه غوڅیږی. د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کی د عبدالله ابن عباس رضی الله عنه په روایت سره لس درهمه، د ابن عمر رضی الله عنه په روایت دری درهمه، د انس ابن مالك رضی الله عنه په روایت پنځه درهمه او د حضرت عائشی رضی الله عنها په روایت ددینار څلورمه برخه د ډال بیه یا په سرقی د لاس پریکولو نصاب ؤه. ددی اختلاف له امله د فقهاؤ ترمنځه د سرقی په لږ ترلږه نصاب کی اختلاف راپیدا شوی دی. د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد د سرقی نصاب لس درهمه،د امام مالك، امام شافعی او امام احمد رحمهم الله په نزد ددینار څلورمه برخه دی. (په هغه زمانه کی په درهم کی ۳ ماشی او ۱.۵ رتی سپین زر وو او ددینار څلورمه برخه ددریو درهمو سره سمه وه).

ډیر شیان داسی دی چی د هغوی په غلاء کولو سره لاس نه پریکړی کیږی، د مثال په توگه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم هدایت دی چی "لاقطع فی ثمرة ولا کثر" یعنی د میوی دانی او ترکاریو په غلاء د لاس پریکولو جزاء نشته، لا قطع فی الطعام" یعنی د خوراکی موادو په غلاء کولو سره د لاس د پریکولو جزاء نشته. او حضرت عایشه رضی الله تعالی عنها فرمائی: لم یکن قطع السارق علی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم فی الشئ التافه" یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کی د حقیرو (بی اهمیته) شیانو په غلاء کولو لاس نه پریکړی کیده. د حضرت علی او حضرت عثمان رضی الله عنهما فیصله او په صحابهء کرامو کی ورسره هیڅ مخالفت نه دی کړی چی فرمائی، "لا قطع فی الطیر" د الوتونکی (مرغی) په غلا لاس نه پریکړی کیږی" همدغه راز حضرت عمر او حضرت علی رضی الله عنهما له بیت المال څخه په غلاء کولو سره د لاس پریکولو جزاء نه ورکوی او په دی معامله کی هیڅوك اصحابهء کرامو څخه اختلاف نه لری.

ددغو مأخذونو په اساس بیلو بیلو امامانو د بیلو بیلو شیانو د لاس پریکولو له جزاء نه مستثنی گڼلی دی خو ددی معنی دا نه ده چی په دغو غلاؤ به له سره جزاء نه ورکړی کیږی، مطلب دادی چی په دغو جرائمو باندی لاس نه پری کړی کیږی.

په زنا او قذف باندی د حد جاری کولو حکم په دی ډول دی،"الزانیة والزانی فاجلدوا کل واحدٍ منهما مائة جلدةٍ ولا تأخذکم بهما رأفةٌ فی دین الله ان کنتم تؤمنون بالله والیوم الاخر ولیشهد عذابهما طائفةٌ من المؤمنین. (النور – ۲)

یعنی" زانیه ښځه او زانی نارینه دواړه هریو سل دُرې (متروکی) ووهئ او په هغوی باندی زړه سوی دی د الله ددین په معامله کی ستاسی مخه ونه نیسی،که چیری تاسی په الله تعالی او د آخرت په ورځ ایمان لرئ. او هغوی ته د جزاء ورکولو په وخت کی دی د مؤمنانو یوه ډله حاضره وی چی وئی ګوری.

د قذف په باره کی داسی حکم کوی.

"والذین یرمون المحصنت ثم لم یأتوا بأربعة شهدآء فاجلدوهم ثمنین جلدةً ولا تقبلوا لهم شهادةً ابداً و اولئِك هم الفسقون. (النور-٤)

یعنی؛ او کوم خلك چی په پاکو ښځو باندی تور لګوی او بیا (د خپلی ادعا د ثبوت دپاره) څلور ګواهان حاضر نه کړی نو هغوی اتیا دُرې (متروکی) ووهئ او د هغوی ګواهی

د تل لپاره مه منئ او هغوی پخپله فاسقان دی."

څرګنده ده چی دا حکمونه ددی مفروضی په اساس نه دی ورکړی شوی چی ددغو حکمونو منونکی خلك دی د کفارو او ملحدانو د پولیسو او د هغوی د محکمو تر حکم لاندی وی او دغه حکمونه دی منی.

په دی دین کی د کفارو سره د جګړی په حکم کی فرمائی:"قاتلوا الذین لا یؤمنون بالله ولا بالیوم الاخر ولا یحرمون ما حرم الله ورسوله ولا یدینون دین الحق من الذین اوتواالکتب حتی یعطوا الجزیة عن یدٍ وهم صغرون" (التوبة – ۲۹)

یعنی" له اهل کتابو (دکتاب خاوندانو) څخه د هغو خلکو په خلاف جګړه وکړئ چی په الله او د آخرت په ورځ ایمان نه راوړی او څه چی الله تعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم حرام ګڼلی دی، حرام نه ګڼی او حق دین (اسلام) خپل دین نه ګڼی.

تردی چی پخپله جزیه ورکړی او وتپکول شی (سپك شی)."

دغه حکم په دی مفروضه نه دی ورکړی شوی چی مسلمانان دی د کافرو رعایا او ترلاس لاندی وی او بیا

دی هم له هغوی نه جزیه واخلی او خوار دی ئی کړی اود هغوی د ژوند د مصئونیت او حفاظت مسئولیت دی په غاړه ولری. دغه معامله او احکام یوازی په مدینه کی د نازل شوؤ سورتونو پوری منحصر نه دی بلکه په مکی سورتونو کی هم دغه ډول احکام شته چی له ابتداء څخه ددین داسی یوه نقشه تیاره شوی ده چی په هغی کی ددین غلبه او اقتدار څرګند لیدل کیږی. داسی نه ده چی دین او ددین خاوندان دی د کفر تر حکومت لاندی ژوند کوی او د کافرانو زمیان دی وی.

زمونږ له دغه مطالعی څخه چی په تیرو مخونو کی مو وکړه دا خبره جوته ده چی «دین» د الله تعالی د قانون او تشریع په صفت راغلی دی او قانون او تشریع بی له اقتداره هیڅکله نشی نافذیدلی. دا خبره ثابت حقیقت دی چی د قانون ترشا چی قوت او اقتدار نه وی او د الهی شریعت ترشا چی حدود نه وی نو تطبیق او عملی کول ئی ګران او مشکل کار دی. د نړۍ د هر مدنی او حقوقی قوانینو ترشا د مجازاتو د قانون تر عنوان لاندی چی "د جزاء قانون" ورته وائی نافذیږی او هغه هله د عمل جامه

اغوندی چی د نافذ کونکو په لاس کی ئی د چارو واگی یا اقتدار او قوت وی. او هغه څوك چی قانون شکنی کوی جزاء ورته ورکوی او منع کوی ئی چی قانون مات او اخلال نه کړی.

قرآن مجید هم لکه چی په تیرو مخونو کی مو پری رڼا اچولی ده د قانون او تشریع د انفاذ ترڅنگ د مجازاتو او جزائی قوانینو برخه لری.او د قانون د یادونی ترڅنگ ورسره جوخت د قوت او اقتدار یادونه کوی لکه چی فرمائی: لقد ارسلنا رسلنا بالبینت وانزلنا معهم الکتب والمیزان لیقوم الناس بالقسط وانزلنا الحدید فیه بأسٌ شدیدٌ و منافع للناس ولیعلم الله من ینصره و رسوله بالغیب إن الله قویٌ عزیز.(الحدید - ۲۵)

یعنی" حقیقت دادی چی مونږ خپل استازی (رسولان) ولیږل د څرگندو نښو نښانو (حکمونو) سره او د هغوی سره مو کتاب او عدالت ولیږهٔ چی خلك په عدالت او انصاف باندی ټینگ شی.

او مونږ اوسپنه پیداکړه چی په هغی کی سخته جگړه او د خلکو لپاره گټی دی. چی الله دا ښکاره کړی چی څوك په غیبه د الله او د هغه د رسول مرسته کوی بیشکه چی الله تعالی د قوت خاوند او غالب دی."

په دی آیت کی د پیغمبرانو د رسالت او رالیږلو سره د کتاب او میزان یادونه شوی ده. لکه چی مونږ پخوا هم لیکلی دی چی د میزان نه مقصد عدالت او انصاف دی او له کتاب نه مقصد الهی کتابونه او الهی قانون دی. خو دلته دا سوال راپیداکیږی چی څوك دغه الهی قانون ته غاړه نه ایږدی او د عدالت او انصاف په لاره نه ځی او ورسره مزاحمت او مقابلی ته ودریږی نو بیا څه باید وشی؟ ځکه نو ددغی پوښتنی په ځواب کی که څه هم پوښتنه مطرح شوی نه ده، داسی فرمائی چی بیا نو مونږ اوسپنه د همدغه غرض لپاره راپیداکړی ده چی هم پکی سخته جگړه شته او هم پکی ډیری گټی او منافع.

یعنی هغه څوك چی عدالت او انصاف ته او په عدالت او انصاف مبنی الهی قانون ته غاړه نه ږدی او ورسره مزاحمت او مقابله کوی نو په دغه وخت کی بیا د قوی استعمال ته اړه پیدا کیږی او مجرمانو ته د مجازاتو ورکولو فکر منځ ته راځی، ددغه عمل د ترسره کولو لپاره اوسپنه ده چی ځنځیر، زولانه، توره، ټوپك، غشی، ډال، ماشیندارهٔ، بم، طیاره، توپ، ټانك او نور هر ډول سخته او خطرناکه وسله په همدغه اوسپنه کی ده. او د اوسپنی په وسیله انسان کولی شی چی د مقابل او مزاحم قوت سره جگړه وکړی او د جهاد فی سبیل الله له لیاری د الله تعالی قانون او الهی دین خپور کړی. له بلی خوا په اوسپنه کی گټی او منا فع بیا نوی یعنی څو ك چه د جگړی لاره غوره نکړی او د سولی او سلامتیا لاره واخلی نو بیا هم دغه اوسپنه ده چی د ژوند د ټولو اړتیاو، د کارخانو ماشینونه، د طب او ډاکټری سامان، د ناروغانو د علاج اود جراحی عملیاتو او اپریشن افزار او وسایل، گاډی او موټر، د سپرلۍ طیاره، د خوراك څښاك لوښی، د علم اوتحصیل سامان او د گټورو منافعو نور ډیر وسایل او سامانونه په همدغه اوسپنه کی دی.

پای

لعنتی تسلیمه نسرین

د محمد شیرین «اسد» ژباړه

په دی ورستیو وختو کی د نړی په مطبوعاتو او عامه اخبارونو کی د بنگله دیش د ملعونی او مرتدی لیکوالی «تسلیمه نسرین» په هکله خبرونه او مضامین شایع کیږی.

که له یوی خوا د نړی کفری طاقتونه او د اسلام ضد عناصر هغی ته د پناه ورکولو او له مرگ نه د خلاصون کوششونه کوی نو د بلی خوا د نړی مسلمانان په تیره بیا د بنگله-دیش علماء او عام مسلمانان په دغه اړوند جلسی او مظاهری کوی او د بنگله دیش د حکومت نه دا غوښتنه کوی چی دغه مرتده باید سنگساره او سزا ورته ورکړی شی.

د جرمنی د بهرنیو چارو وزیر ویلی دی چی د جرمنی حکومت دی ته حاضر دی چی تسلیمه نسرین ته سیاسی پناه ورکړی،حتی د امریکا جمهور رئیس «بل کلنټن» هم ددغی ملعونی په حمایت کی بیان ورکړی دی.

دلته ماته هغه قصه راپه یاده شوه چی وائی یو تن خپل دوست ته ورغی او ورته ئی وویل:زه غواړم چی پدی ښار کی ډیر شهرت تر لاسه کړم، داسی شهرت چی لوی او واړه په کلی او حجره کی بس یو ما یادوی او په ما بحث کوی. هغه دوست ئی ورته له ریشخنده وویل چی ولاړ شه په جومات کی گندگی وکړه، بس هر سړی به تا یادوی او همداسی وشو، نو دغی مرتدی هم د سلمان رشدی او د مصر د نجیب محفوظ په څیر د ځان د شهرت حاصلولو په غرض راساً د اسلام په حریم حمله وکړه، او داسی د کفر او الحاد ډکی آزارونکی خبری ئی وکړی چی د ټولو مسلمانانو زړونه ئی آزار کړل. دا څه نوی خبره نده، د اسلام مخالفین د صدر اسلام نه تر ننه پوری پدی کوشش کی دی چی ددغه آبدی دین د ختمولو لپاره ډول ډول دسیسی جوړی کړی، خو چی په لاس څه ندی ورغلی او د مؤحدو مسلمانانو له اړخه ورته غابښ ماتونکی ځوابونه ورکړی شوی،نو د مسلمانانو له منځه ئی داسی ضعیف العقیده او دنیا پرست اشخاص په خپلو مادی وسایلو تیر ویستلی او خپل زړونه ئی تسکین کړی دی. لیکن اسلام د الله تعالی داسی بله ډیوه ده چی د اغیارو پداسی پوکو به هیڅکله مړه نشی، الله تعالی پخپله ددغه عظیم دین د ساتلو وعده ورکړی چی تر قیامته به دایم او قایم وی.

اوس به وگورو چی تسلیمه نسرین څوك او د کوم کردار خاونده ده.؟

پنځه دیرش کلنه تسلیمه نسرین د بنګله دیش د میمن سنګر د سیمی اوسیدونکی ده، دغه سیمه د بنګله-دیش په شمال کی واقع ده. د هغی پلار ډاکتر دی او هغی هم د ډاکترۍ په شق کی خپل تعلیمات سرته رسولی او بیائی په مقامی روغتون کی وظیفه اجراء کړی ده، په دغه دوران کی هغی خپل بنګله دیشی پاسپورټ په هندی پاسپورټ تبدیل او هند ته ولاړه او هلته ئی د صحافت په رشته کی کار شروع کړ. نوموړی د خپلو ناوړو اخلاقو په وجه ددری مړونو له خوا (دری ځله) طلاقه شوی ده.

تسلیمه نسرین په بی حده بد اخلاقۍ، عیاشۍ او فحاشۍ شهرت لری، هغه وائی یوه ښځه پرته له خاونده هم باید خپله جنسی چاره وکړی، د هغی نظر دادی لکه ځنګه چی یو سړی ته د ځلورو ښځو اجازت دی باید یوه ښځه هم ځلور خاوندان وکړی شی. په غرب کی دغه نظریه ډیره عامه ده، ښځه او سړی پرته له واده نه هم یواځی اوسیدی شی او دغه فعل ته هغوی (LOVE TO GEITHER) وائی. یعنی د مینی یوځای کیدل.

ملعونه تسلیمه نسرین هم ددغه فکر خاونده ده.

تسلیمه نسرین به د متعلمۍ په دوران کی د بنګله دیش په فلمی مجلو کی فحاش داستانونه او عشقیه اشعار نشرول.

او د ښځی د مکملی آزادۍ په باب به ئی هم ځنی مضامین ورکول چی دا د هغی د ابتدائی شهرت سبب شول. وروسته دغی مرتدی خپل اصلی شهرت هغه وخت ترلاسه کړ، کوم وخت چی هغی د اسلام د قوانینو پرضد خپل کتاب نشر کړ. کله چی دغه کتاب د هندوستان په یوه مطبعه کی چاپ شو نو دغه مرتدی ته ئی د یوی بهترینی لیکوالی خطاب ورکړ، دا د بنګله دیش لمړۍ میرمن وه چی د هند د حکومت له خوا ورته د یوی ښی لیکوالی ایوارډ ورکړی شو. اګر چی دغه کتاب یو جعلی کتاب ؤ او د ډیرو نواقصو نه ډک ؤ او په هره موضوع ئی په مسلمانانو څه چی په اهل کتابو باندی هم اعتراض درلود، د مثال په ډول یوی ښځی ته د څو خاوندانو کولو موضوع او داسی نور، خو بیا هم د اسلام مخالفینو دغه کتاب ته یوازی پدی وجه ایوارډ ورکړ

چی هغه د اسلام د قوانینو پرضد لیکلی شوی ؤ. همدارنګه د مصر یو بل مرتد لیکوال نجیب محفوظ ته صرف پدی وجه نوبل انعام ورکړی شوی ؤ چی هغه په خپل کتاب «اولاد حارتنا» کی الله تعالی ته «الجبلادی» (یو ظالم حکمران) ویلی دی. (نعاذ-بالله) او په الهی صفاتو باندی ئی ملحدانه اعتراضات کړیدی. له دی نه معلومه شوه چی د غرب سیاستمداران یوازی هغه کسان د نوبل د جایزو مستحق ګڼی، څوک چی د اسلام په ضد آواز راپورته کوی، ولو که هغه سراسر دروغ او د مطبوعاتو د چوکاټ نه بهر هم وی.

کله چی هندوانو په بابری جومات یرغل وکړ نو په دغه وخت کی مرتدی تسلیمه نسرین د هندوانو خوشحالولو لپاره یو بل کتاب د «Shame» (حیا) په نوم چاپ کړ، په دغه کتاب کی دغی مرتدی د هندوانو د یرغل تائید او توزیع کړو. کله چی د بنګله-دیش حکومت د تسلیمی ددغه کتاب نه خبر شو نو په بنګله دیش کی ئی په دغه کتاب باندی پابندی عاید کړه، څو د مسلمانانو او هندوانو د تصادم مخنیوی پری وکړی.

که د مرتدی او ملعونی تسلیمه نسرین تألیفات وکتل شی نو معلومیږی چی دغه مرتده یوه مذهب او دین ته هم قایله نه ده. هغه د آخرت له حساب وکتاب (سزا او جزا) نه انکار کوی، په ټولو پیغمبرانو او انبیاؤ باندی ردبد وائی او د قرآن کریم په باب وائی چی دا آسمانی کتاب نه بلکه د بشر له خوا جوړ شوی او لیکل شوی کتاب دی (نعاذ بالله) په قرآن پاك کی د ښځو د حقوقو خیال ندی ساتل شوی (نعاذ بالله).

هغه د ښځو د واده او نکاح هم مخالفه ده او وائی چی په واده او نکاح سره ښځه پابنده او د خپلو حقوقو څخه محرومه کیږی، هغه د ښځی د مطلقی آزادۍ طرفداره ده او په دغه آزادۍ کی جنسی آزادی د هغی اولنی مقصد دی.

اگر چی د جنیوا دمعاهدی په اساس یو سفارت نه شی کولی چی په بل هیواد کی د هغه هیواد خلك دښمنه کسانو ته پناه ورکړی خو ددی معاهدی باوجود په بنگله دیش کی د غرب څینو سفارتونو تسلیمه نسرین ته پناه ورکړی او د هغی له موجودیت نه ئی انکار کړی دی.

له بلی خوا د بی، بی، سی له تلوزیون نه دغه مرتده په داسی حالت کی ښودلی شوی چی سیگرټ ئی په لاس کی دی او د قرآنکریم هغو آیاتونو ته اشاره کوی، په کومو چی دغی مرتدی اعتراض درلود او ویل ئی چی په دغو دغو آیتونو کی غلطیانی دی (نعاذ بالله).

کله چی د بی.بی.سی د تلویزیون نه د هغی دغه مصاحبه نشر شوه نو د بنگله دیش په لویو ښارونو کی یوځل بیا ددغی مرتدی په ضد خلك راوپاریدل او د بنگله دیش د حکومت نه ئی د هغی د نیولو غوښتنه وکړه، چی وروسته جوخت د نړی د انسانی حقوقو برای نام تنظیم د بنگله دیش په حکومت زور واچوه چی د تسلیمه نسرین له نیولو نه دی ډډه وکړی.

د نړۍ شیطانی قوتونو دغه مرتده د سلمان رشدی په څیر په یوه پټ ځای کی ساتلی او د مسلمانانو د زړه آزاری دپاره تری یوه یوه مصاحبه اخلی، ترڅو په اسلامی هیوادونو کی گډوډی او اضطراب پیداکړی، خو په دی نه پوهیږی چی د سلمان رشدی انجام څه شو؟

کله چی اسلامی نړۍ د سلمان-رشدی پرضد راوپاریدله نو دغو ټولو شیطانی قوتونو چی نن تسلیمه نسرین ته د سیاسی پناه ورکولو سینه ډبوی، د سلمان رشدی نه ئی انکار وکړو او هیڅ یو هیواد دی ته حاضر نه شو چی هغه ته سیاسی پناه ورکړی، حتی د انگلستان حکومت هم له هغه نه په تنگ راغی، چی مونږ د سلمان-رشدی د سیکورټی (دساتنی او حفاظت) مصارف نه شو برداشت کولی او سلمان رشدی د الله تعالی په داسی گرفت کی واقع شو چی حتی خپلی میرمنی او بچو ته ئی هم د شك په سترگه کتل او په دی ویریده چی دوی راباندی چیری پیسی نوی اخستی او مړ می نه کړی، څو بالاخره میرمن ئی دی ته مجبوره شوه چی د سلمان-رشدی نه طلاق وغواړی. له هغه نه یو پمن سپی جوړ شو چی خپل او پردو په تری کرکه او نفرت کولو او الله تعالی په دی دنیا د عمری قید په سزاء محکوم کړو.

فتوای تاریخی آقای علامه خامنه ای و پیامدهای آن

نوشته: عبدالصمد

الله تبارك وتعالی در قرآن کریم میفرماید: «قل جاء الحق و ذهق الباطل ان الباطل کان ذهوقا» الایه
یعنی: بگو (ای پیغمبر صلی الله علیه وسلم) که حق آمد و باطل نابود شد به تحقیق که باطل نابود شدنیست.

این حقیقت در جریان انقلاب اسلامی کشور عزیز مان بارها منحیث واقعیت عینی دیده شده حتی محسوس گشته است که حق بالآخره به جای خود استقرار می یابد هر چند که در برابرش موانع و مشکلات گوناگون ایجاد شود.

می آئیم بر سر اصل مطلب، وقتی علماء حق داد میزدند و میگفتند که بعد از سه روز سوگواری و عزا داری و زدن سرو صورت برمیت و مراسم سینه زنی و زنجیر زنی مروجه دهه عاشوری کارزشت و ناپسندیده و خلاف سنت پیغمبر اکرم (صلی الله علیه وسلم) وصحابه کرامش (رضوان الله علیهم اجمعین) بوده، نه تنها در آن اجروثواب نیست بلکه گناهی است بزرگ که باعث هلاکت و خذلان میگردد. سیل اتهامات و گفتن نا سزاء بود که بسوی شان سرازیر شده و آماجگاه هر کس و ناکس گردیدند.

بالآخره فتوای قریب به محرم ۱۳۱۵ هـ ق که راجع به تقبیح و ترك نمودن خونریزی از پشت وسینه در مراسم سینه زنی و زنجیرزنی محرم از طرف آقای علامه خامنه ای رهبر مذهبی جمهوری اسلامی ایران صادر گردیده بود، توانست بارسنگین علماء حق را کم تر سازد.

روزنامهء نوای وقت لاهور (مورخ ۲۹ جون ۱۹۹٤ م) زیر عنوان «در دوران ماتم از خون نمودن جسم خود بپرهیزید» فتوای تاریخی آقای علامه خامنه ای رابه نشر سپرده روشن ساخته بود که خونریزی و خون نمودن پشت و سینه در دوران مراسم سینه زنی و زنجیر زنی مراسم جاهلانه و ناشایسته است و شیعیان باید دنیا رابی حس و تو هم پرست نپندارند.

این فتوا را علماء متعدد اهل تشیع ایران نیز تائید نموده و در ایران تطبیق هم شد ولی تعصب بعضی گروه های متعصب ایران باعث گردید که شیعیان دیگر ممالك اسلامی همچون سابق مراسم سینه زنی و زنجیر زنی و خونریزی خویش را توئم با زنجیرها و چاقوهای تیز اجراء نمایند.

روزنامه مینویسد: در ایران این فتوا عملی گردید، سوگواران بادست خود سینه زنی میکردند و از زنجیرزنی و چاقو زنی و مجروح نمودن اجسام خویش خودداری نمودند ولی در پاکستان بعضی علماء شیعه به این فتوا اهمیت ندادند.

روزنامه از قول «مانیترنگ دیسك

- لندن» مینویسد که راجع به ترك خون نمودن اجسام سوگواران فتوای علامه خامنه ای رهبر روحانی ایران در کشور ایران عملی گردید مگر برعکس در پاکستان، لبنان و دیگر ممالك نظر انداز و مراسم عزاداری مانند رسومات سالهای گذشته توام با زنجیرها و چاقوهای تیز عملی گردید.

این که سلسلهء مراسم سینه زنی و زنجیرزنی وخون نمودن پشت ها و سینه ها از چه وقت شروع شده معلوم نیست، مگر این حقیقت روشن است که بعد از قرون اول اسلامی مسلمانهای شیعه در ممالك عرب و ایران و برصغیر در دههء اول ماه محرم بخاطر یاد بود شهادت امام حسین ویارانش (رضی الله عنهم) سروسینه خود ها را بادست میزدند تا اینکه رسم آهسته اهسته شکل امروزه رابخود گرفت و زدن سروسینه وروی از دست به کارد وچاقو و قمه ترقی نموده است.

اطلاعات ایران نیز این خبر را تائید و تصدیق نموده است که بعضی گروه های متعصب ایران این فتوی و این نعرهء حق آقای خامنه ای را قبول نمی کردند تا اینکه بعضی علماء با نفوذ مذهبی با فتوای آقای خامنه ای همصدا شده و مراسم زنجیر زنی وخون نمودن اجسام سوگواران را رسم جاهلانه و ناشایسته قلمداد نمودند، از جمله آیت الله مشکینی از طریق رادیوو تلویزیون ایران اعلان نمودند که فتوای آقای خامنه ای مانند دیگر فتواهایش قابل اعتبار و تطبیق است، همچنین عالم شهیر و زبردست شیعه آقای آیت الله علی عراقی نیز این فتوا را تائید و قابل تطبیق خواندند.

این یك حقیقت مبرم است که شیعیان دیگر کشورهای اسلامی مانند لبنان، پاکستان، برصغیر و غیره از سوی دست اندرکاران جمهوری اسلامی ایران رهنمائی و رهبری میشوند ولی باز هم فتوای آقای خامنه ای را چندان از تهء دل نپذیرفتند، شاید علتش این بوده باشد که فتوا در روزهای بسیار قریب به محرم به نشر رسید و علماء شیعه نتوانسته که در باره باهم تفاهم و گفتگو نمایند.

در پاکستان بعضی علماء شیعه اظهار نظر نمودند که پابند فتوای آقای خامنه ای نیستند و بعضی ها استدلال نمودند که مرتبهء علمی آیت الله خمینی نسبت به مرتبه علمی آیت الله خامنه ای بلند تر بود آیت الله خمینی چرا این رسم را از جملهء رسومات جاهلانه و ناشایسته قلمداد نکردند؟ ولی بالمقابل تحریك فقه جعفریه پاکستان ضمن تائید فتوای آقای خامنه ای اضافه نمودند که در جلوس های ماتمی محرم رسم زنجیر زنی وخون نمودن جسم سوگواران از جمله رسومات هندوایزم بوده و فتوای آقای خامنه ای یك اقدام انقلابی و تاریخی است.

به هر صورت، اینکه پیامدها وعکس العمل فتوای آقای خامنه ای چه بوده؟ چه خواهد شد؟ در آینده به کدام اندازه تطبیق خواهد شد؟ از جملهء پرسشهای است که مسیر زمان جوابگوی آن خواهد بود. ولی چیزی که برای ما حایز اهمیت است اینست که آخرالامر حق به جای خود میرسد، هر چند منکرین حق در برابر قرآن وسنت بایستند، بازهم حق موفق است.

از نظر ما آقای خامنه ای با فتوای حق گویا نهء حق توانست قدمی را بطرف سنت و ارشاد پیامبر صدیق اسلام (صلی الله علیه وسلم) بگذارد، در آینده هم امید واریم که هم آقای خامنه ای وهم دیگر آقایون اعم از علماء سنی وشیعه از تعصب بی ثمروتلخ ثمر بکاهدو به سوی حق که همانا تعالیم والای اسلام است بشتابند، اصل تعالیم اسلام که همانا قرآن وسنت اند بالا تفاق منحیث مرجع اصل دین محسوب میگردد باید تمام علماء بآن رجوع نمایند تا دیگر مسلمانان را از ورطهء هلاکت نجات بخشیند.

(وما علینا الاالبلاغ)

د اصلي اهل سنتو دعوت

د اهل حديثو دعوت بالکل ساده او فطري دعوت دي، دا دعوت ځمکني نه بلکي اسماني دي. دا د چا د ذهن او دماغو اختراع او ايجاد نه دي، دا دعوت د انساني لاس وهني نه محفوظ دي او دا دعوت عين د الله تعالي دعوت دي. دا دعوت ددي رباني ارشاد مطابق دعوت دي:

"اطيعوالله و اطيعوا الرسول" (سورة آل عمران- ٣٢)

ترجمه: د الله تعالي او د هغه د پيغمبر (صلي الله عليه وسلم) اطاعت وکړئ.

په سورت النساء کي ئي ورسره د «اولي الامر» اطاعت هم فرمايلي دي، مګر ددي سره سره فرمايي:

فإن تنازعتم في شيءٍ فردوه إلي الله والرسول. (سورت النساء-٥٩)

ترجمه: که ستاسي په کومه مسئله کي اختلاف راشي، نو الله او د الله رسول (صلي الله عليه وسلم) طرف ته رجوع وکړئ.

ددي نه معلومه شوه چي پرته د الله تعالي او د رسول الله صلي الله عليه وسلم له اطاعت نه د غيرالله اطاعت جايز نه دي او نبي کريم صلي الله عليه وسلم هم پدي هکله فرمايي:

(لاطاعة لمخلوق في معصية الخالق (مشکوة بحواله شرح السنة کتاب الامارت وقضاء)

ترجمه: د الله تعالي د نافرماني په صورت کي د مخلوق اطاعت جايز نه دي.

وعن علي بن ابي طالب قال قال رسول الله لا طاعة في معصية انما الطاعة في المعروف. (مشکوة بحواله بخاري و مسلم)

ترجمه: د حضرت علي بن ابي طالب رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي د الله تعالي د نافرماني په صورت کي د مخلوق اطاعت جايز نه دي، د مخلوق اطاعت يوازي په نيکو کارونو کي جايز دي او نيک کارونه يوازي هغه دي چي الله تعالي او د هغه رسول صلي الله عليه وسلم پري راضي وي.

هغه خلک چي الله تعالي او د هغه رسول صلي الله

علیه وسلم پریږدي او د خپلو پلرونو، نیکونو او نورو بزرگانو په نقش قدم روان وي، الله تعالي دداسي خلکو د سخت گرفت په هلکله په قرآن مجید کي باربار وعید فرمایلي او وائي:

قل یأهل الکتب تعالو الي کلمةٍ سوآءٍ بیننا وبینکم ألا نعبد إلاالله ولا نشرك به شیأً ولا یتخذ بعضنا بعضاً ارباباً من دون الله. (آل عمران- ٦٤)

ترجمه: اهل کتابو ته ووایه! راشئ د یوي داسي کلمي په لور چي زمونږ او ستاسي په منځ کي برابره ده، یعني مونږ د الله تعالي له عبادت نه پرته د بل چا عبادت نه کوو او له هغه سره څوك شریك نه گڼو او پخپلو منځو کي یوبل رب نه جوړوئ.

هغه انسان چي الله تعالي تر ټولو مخکي جوړ کړي او پخپلو لاښونو یي د هغه تخلیق کړي دي هغه ته ئي هم دا فرمایلي دي:

فإما یأتینکم منی هدًي فمن تبع هداي فلاخوفٌ علیهم ولاهم یحزنون.(سورت البقره - ٣٨)

ترجمه: تاسي ته زما له طرفه هدایت راغلي ؤ، پس چاچي زما د هدایت پیروي وکړه، په هغه به هیڅ ډول ویره او غم نه وي.

الله تعالي ددنیا خلکو ته د هر پیغمبر علیهم السلام پذریعه دا پیغام لیږلي دي:

اعبدواالله واجتنبوا الطاغوت. (سورت النحل - ٣٦)

یعني د الله تعالي عبادت وکړئ او د طاغوت څخه ځانونه وژغورئ. حضرت نوح، حضرت هود، حضرت صالح، حضرت لوط، حضرت شعیب او لنډه دا چي ټولو انبیاؤ علیهم السلام خپلو قومونو او امتونو ته د الله تعالي دا حکم رسولي دي چي: فاتقوالله و اطیعون. (سورت الشعراء) یعني له الله تعالي نه ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ.

حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د رسول الله صلي الله علیه وسلم نه تپوس وکړ چي نجات څنگه حاصلیږي؟

رسول الله صلي الله علیه وسلم ورته وفرمایل: من قبل مني الکلمة التي عرضت علي عمي فردها فهي له نجاة. (صحیح مسند احمد جـ ١ صـ ٤)

د هغي کلمي په قبلولو سره نجات حاصلیږي،کومه چي ما خپل تره ته وړاندي کړه مگر هغه رد کړه.

اوهمدا د "لااله الاالله محمد رسول الله" کلمه ده چي په لوستلو یي مونږ مسلمانان شوي یو.

همدارنگه په اذان ویلو کي هم مونږ دا شهادت ورکوو چي «اشهد ان لا اله الاالله و اشهدان محمد رسول الله».

په قبر کي هم تر ټولو لومړي پوښتنه دا کیږي چي رب دي څوك دي؟ او پیغمبر دي څوك دي؟ او دین دي کوم دي؟ (ابوداؤد)

هغه داعي چي هغه ته تر هرڅه د الله تعالي دعوت محبوب دي، الله تعالي د هغه په باره کي فرمایي:

ومن احسن قولاً ممن دعا الي الله وعمل صالحاً وقال انني من المسلمین.(حم سجده - ٣٣)

ترجمه: او ددي نه ښه خبره کومه ده چي د الله تعالي طرفه ته بلنه کیږي او صالح عمل وکړي او ووائي چي زه مسلمان یم.

ددي نه معلومه شوه چي اصل دعوت د الله تعالي طرفه ته دي، په پیغمبر ایمان راوړل یوازي ددي لپاره ضروري دي چي الله تعالي زمونږ د لارښوني لپاره

مبعوث کړي دي او د «داعیاًالي الله» (احزاب-٤٦) په حیث تشریف فرما شوي دي، د پیغمبر اطاعت په حقیقت کي د الله اطاعت دي.

من یطع الرسول فقد اطاع الله. (النساء)

یعني چا چي د پیغمبر (صلي الله علیه وسلم) اطاعت وکړ، په تحقیق سره هغه د الله تعالي اطاعت وکړ. پیغمبر چي د الله تعالي د افضل المخلوقاتو څخه دي، په دنیا کي ددي لپاره نه دي راغلي چي خپلي بندګۍ ته خلك وبلي بلکي خلکو ته د الله تعالي د بندګۍ کولو درس ورکړي.

څرنګه چي الله تعالي فرمایي: ما کان لبشرٍ ان یؤتیه الله الکتاب والحکم والنبوة ثم یقول للناس کونو عباداً لي من دون الله ولکن کونو ربانین. (آل عمران - ٧٩)

ترجمه: هیڅ بشر سره دانه ښایي چي الله تعالي هغه ته کتاب، حکم او نبوت ورکړي او بیا هغه خلکو ته ووایي چي د الله تعالي په ځاي زما بندګي وکړئ بلکي هغه دا وایي چي د الله تعالي بندګي وکړئ.

توحید دي ته وایي چي یوازي د الله تعالي عبادت او د محمد رسول الله صلي الله علیه وسلم اطاعت وکړئ. معلومه شوه چي د الله تعالي له عبادت او د رسول الله صلي الله علیه وسلم له اطاعت نه پرته توحید نشي کیدلاي، لکه څنګه چي مخکي وویل شول د پیغمبر صلي-الله علیه وسلم اطاعت په اصل کي د الله تعالي اطاعت دي. همدارنګه الله تعالي فرمایي:

وما ینطق عن الهوي٥ ان هو الا وحي یوحي. (سورت نجم - ٣-٤)

گفته‌ء او گفته‌ء الله بود- گرچه از حلقوم عبدالله بود.

یعني، رسول الله صلي الله علیه وسلم پخپل خواهش دین نشي بیانولي بلکي هغه ته وحي راځي نو هغه یې بیان کړي. د پیغمبر اطاعت پرېښودل او د نورو اطاعت کول دا یوازي شرك في الرسالت نه دي بلکي دا دول شرك کول د شرك في التوحید له جملي څخه دي. په قرآن پاك کي وایي:

اتخذوا احبارهم و رهبانهم ارباباً من دون الله. (توبه- ٣١)

اهل کتابو خپل علماء او صوفیان د الله تعالي نه پرته خپل خدایان ګرځولي وو. په ترمذي شریف کي راغلي دي چي عدي بن حاتم پوښتنه وکړه چي مونږ خو د خپلو احبارو او رهبانو عبادت نه دي کړي، نو نبي کریم صلي-الله علیه وسلم ورته وفرمایل! دوي ته د حلالو او حرامو اختیار ورکول هم ددوي عبادت دي.

د توحید په عقیده کي د مسلمانانو لپاره د وحدت اویووالي راز نغښتي دي، ترڅو چي مسلمانان د توحید په عقیده مظبوط ولاړ وي، تر هغې پوري به د مسلمانانو ترمنځ د وحدت او یووالي رسۍ مظبوطه وي.

کله چي د توحید له نظریې څخه لېري والي اختیار شي، د مسلمانانو ترمنځ په وحدت کي درزونه پیداکېږي. څومره چي د اولاد له خپل مور او پلار سره نژدي تعلق او اړیکي وي، هغومره یې په محبت کي له یوبل سره زیاتوالي او کشش راځي. څومره چي ددوي د یو بل سره په اړیکو کي فاصله منځته راځي، هغومره د محبت رسۍ سستیږي، ځان ځاني او نفاق زېږوي.

دا حال د قرآن او سنت هم دي، که مونږ د قرآن او سنت سره تړلي وو نو پخپل منځ کي به مو د پیوستون رسۍ مظبوطه وي او که د قرآن او سنت سره مو تعلق او اړیکي

قطع شوي نو پوه شئ چي پخپل منځ کي مو تعلق قطع شو.

د مسلمانانو اړیکي د یوبل سره د قرآن او سنت له کبله قایمي دي. د قرآن او سنت څخه پرته بله کومه داسي رشته نشته چي مسلمانان پخپلو مینځو کي سره متحد کړي. یوازي د قرآن او سنت روحاني اړیکي دي چي مسلمانان یي یو له بل سره تړلي دي.

الله تعالي فرمايي: واعتصموا بحبل الله جميعاً ولا تفرقوا. (آل عمران – ۱۰۳).

د الله تعالي رسۍ مظبوطه ونیسئ او ډلي ډلي مه کیږئ. ددي نه معلومیږي چي یوازي د الله تعالي درسۍ یعني د قرآن اوسنت په ټینګولو د نفاق او توکمیزو اختلافاتو مخه نیول کیدي شي.

د اسلام دښمنانو ته دا معلومه شوي ده چي د مسلمان ملت اتحاد ترټولو لوي قوت دي او د مسلمانانو دا قوت د توحید د عقیدي په لرلو سره منځته راځي او په الله تعالي او د الله تعالي په رسول صلي الله علیه وسلم پوره یقین لري.د اسلام دښمنان کوښښ کوي چي د توحید په عقیده د ټلونکو خلکو مخه ونیسي او د قرآن او سنت نه یي منحرف کړي او د اصلي اسلامي مرکزیت د ختمولو پخاطر یي ډول ډول سازشونه پیل کړي دي چي متأسفانه تریوه حده پدي لاره کي بري ته رسیدلي دي.

دیوه زرګي ټوټي وي په زرګونو شوي بدلي

ځیني دلته پریوتلي ځیني هلته پریوتلي

ورونو لوستونکو! یهودیان هغه لعنتي خلك دي چي په یو وخت کي یي عیسایت هم خراب کړي ؤ، دا یهودیان د حضرت عیسي علیه السلام په دین کي د منافقت لپاره ننوتل او هغه د توحید عقیده چي حضرت عیسي علیه السلام خلکو ته وراندي کړي وه، په شرك یي بدله کړه او له یو خداي څخه یي دري خدایان جوړ کړل.

یو مشهور عیسایي لاربنود «پولوس» چي اصلي نوم یي «ساول» ؤ، په اصل کي یهود ؤ او په عیسایت کي د نفاق اچولو په خاطر یي عیسایت قبول کړي ؤ او همدغه سړي د اوسني عیسایي عقیدي بنسټ ایښودونکي هم ؤ.

نوموړي د عیسایت د خرابولو پخاطر د حضرت عیسي علیه السلام او دده د مور حضرت مریم رضي الله عنها نومونه استعمال کړي دي. همدارنګه په اسلام کي د نفاق د رامنځته کولو پخاطر او د اسلام د متزلزل کولو پخاطر د حضرت علي رضي الله عنه، حضرت فاطمه رضي الله عنها او ددوي د اولاد نومونه استعمالوي، لکه څنګه چي یي په عیسایت کي د حضرت عیسي علیه السلام له نوم څخه کار اخستي ؤ، دغه ډول د نبوي صلي الله علیه وسلم د کورني له نومونو څخه چي د مسلمانانو په زړونو کي محبوبیت لري، هم کار اخلي او پدي ډول مسلمانان له حقي لاري څخه بي لاري کوي. ددغو یهودو په پلمو د یو غولیدلي تش په نوم مسلمان تاثرات په یو عربي شعر کي داسي څرګند کړي دي:

لي خمسه اطفي بها حرالوباء الحاطمه

المصطفي والمرتضي و ابناهما والفاطمه

ترجمه: زما لپاره مشکل کشا او حاجت روا پنځه دي، او هغه محمد صلي الله علیه وسلم، حضرت علي حضرت حسن، حضرت حسین رضي الله عنهم او حضرت فاطمه رضي الله عنها دي.

عبدالله بن سبا چي په ظاهر مسلمان او په حقیقت کي

پوخ یهودي ؤ په خپلو جذباتي او احساساتي چغو چي د اهل بیتو په هکله به یي وهلي،ډیر مسلمانان له ځان سره په دی پلمه ملګري کړل او اسلام ته ئي دومره نقصان ورساؤه چي تر قیامته پوري یي تلافي کیدل ممکن نه ښکاري او د حضرت علي رضي الله عنه د اولاد په نوم یو نوي جعفري مذهب یا اثنا عشریه په وجود کي راغله چي په دین کي یي د اختلافاتو د رامنځته کولو اور وکارۀ او لا تعداد مذهبونه یي مینځ ته راوړل.

ډیره د افسوس خبره ده چي د زیاترو اختلافاتو مرکز کوفه وه، د شیعیت او حنفیت بوټي هم له کوفي څخه راټوکیدلي دي، کوفه د عراق یو مشهور ښار دي او عراق هغه ملك دي د کوم په باب چي نبي کریم صلي الله علیه وسلم ښه پیشګوییي فرمایلي ده. نبي کریم صلي الله علیه وسلم د عراق په لور اشاره کړي وه چي "له دغه ځایه دشیطان ښکر راختونکي دي" (عن ابي عمر- مسلم جـ٢ صـ ٣٩٤)

همدارنګه عراق همیشه د فتنو مرکز ګرځیدلي دي، چي تر ننه هم د عراق حالت نه دي بدل شوي او د"صدام- حسین"موجودیت ددي یو ژوندي مثال دي.

د شیخ الاسلام محمد بن عبدالوهاب نه مخکي ددي حدیث اشاره عراق ته وه،(حنفي حاشیه بخاري جـ ١ـ ١٤١ او جـ ٢ صـ ١٠٥١) خو کله چي محمد بن عبدالوهاب د توحید جنډه اوچته کړه نو قبرپرستو او مقلیدینو ددي حدیث مخ د عراق د نجد په ځاي د حجاز دنجد یعني عینیه په لور واړاؤ.

د تقلید په رواجیدلو سره فرقي منځته راغلي او یوله بلي سره یي د نفرت پراخه خلیجونه حایل شول.

او د مسلمانانو ښیرازه تس نس شوه.

افسوس د هغو خلکو په حال دي څوك چي اوښ ته ګډ وایي. اهل حدیثو ته هم لکه د نورو فرقو غونډي یوه فرقه وایي، حال داچي فرقه یوه جدا معني لري.

په اصل کي فرقه هغو خلکو ته وایي چي الله تعالي او د هغه رسول صلي الله علیه وسلم یي پریښي وي او د کوم بل امام وروسته لګیدلي وي او د قرآن او سنت نه پرته یي د بل چا د تقلید پته خپلو غاړو ته اچولي وي. اهل حدیث خو هغه جماعت دي چي د فرقه واریت او توکمیت سره شدید نفرت لري او دا توکمیت بالکل نه خوښوي او دا جماعت دا غواړي چي ټول مسلمانان په خپل اصلي محور یعني قرآن او سنت وڅرخیږي. دا خبره به یوه ذره هم مبالغه نه وي چي که ووایو چي اوسني جمهوریت په سیاسي لحاظ او تقلید په مذهبي لحاظ سقوط کړي دي.

یاده دي وي چي ځیني خلك د توکمیت (فرقه واریت) مخالفت د فرقه واریت په شکل هم راوباسي، ځیني خلك ددي خبري تردید پدي شکل کوي چي ددي فرقه واریت مخالفت کوونکي ولي په ځان د اهلحدیث نوم ږدي، دا خو هم یوه فرقه ده، مونږ وایو چه د اهلحد یث له لفظ نه هم د فرقه واریت بوي خیژي.


(نوربیا)

د صحابه ؤ (رضي الله عنهم)
ژوند ته
یوه لنډه کتنه

دعبد الغفار لیکنه

حضرت عمیر بن وهب (رضی الله تعالی عنه)

هغه وخت چی مسلمانانو د بدر په غزا کی کفار د شکست سره مخامخ کړل نو عمیربن وهب د نورو کفارو سره پدی بریالی شو چی ځان د مسلمانانو له مخی نه بچ کړی. مګر د هغه ځوی د مسلمانانو په لاس ورغی او مدینی ته ئی راوست.

حضرت عمیر بن وهب پدی ډیر زیات خواشینی ؤ چی آیا مسلمانان به د هغه له ځوی سره څه عمل کوی. ځکه هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ملګرو سره خورا بد سلوك کړی ؤ او هغوی ته ئی بی حده تکالیف رسولی وو.

یوه ورځ عمیر رضی الله عنه د طواف او د بتانو د پرستش په غرض بیت الله ته راغی، پدغه وخت کی صفوان بن امیه هم هلته موجود ؤ، عمیر رضی الله عنه ئی څنګ ته ورغی او ورته ئی وویل: ای صفوانه! سحر دی پخیر! هغه ورته هم ځواب ورکړ.

وروسته دواړو د بدر د جنګ په باب خبری اتری کولی او د مسلمانانو له لاسه ئی خپل ځانی تلفات یادول او په هغو قریشی سردارانو ئی د غم اوښکی تویولی، د کومو څټونه چی د اسلام مجاهدینو په خپلو تورو پری کړی وو او بیا ئی د هغوی مړی د قلیب په کوهی کی غورزولی وو.

صفوان یوه اوږده ساه راښکله او بیا ئی وویل: ای عمیره! په الله می دی قسم وی چی اوس په ژوندون کی هیڅ خوند ندی پاتی. عمیر رضی الله عنه ورته په ځواب کی وویل: ای صفوانه! تا رښتیا وویل او بیا د لوی خاموشۍ نه وروسته ئی وویل: د کعبی په رب می دی قسم وی، که چیری زه قرضدار او عیالدار نه وائ نو محمد (صلی الله علیه وسلم) به می هم دا اوس وژلی وی او نن سبا خو مسلمانان په ما هیڅ شك نشی کولی او ډیرپه آسانۍ مدینی ته تللی شم ځکه زما ځوی د هغوی سره په قیدکی دی او د قیدیانو ورثه ؤ ته د مسلمانانو له خوا اجازت دی چه مدینی ته لاړشی.

دعمیر بن وهب دی خبری صفوان بن امیه ته ډیر خوند ورکړ او خبروته ئی نور هم زیرشو. او ورته ئی وویل عمیره ! ته د خپل قرض هیڅ فکر مه کوه، زه به دومره دنیا درکړم چه ټول عمر به عیش کوی.

عمیر رضی الله عنه چی د صفوان دا خبری واوریدلی نو ورته ئی وویل: چی دا خبری به په خپل راز کی وساتی او هیڅاته به ئی نه ظاهروی.

عمیر بن وهب چی کله د بیت الله نه ووت نو په زړه کی ئی د غچ اخستلو اور لمبی وهلی او د خپلی دی شومی ارادی د ترسره کولو لپاره ئی تیاری شروع کړ. پدی سفر کی هغه د هیڅ قسمه ویری فکر په زړه کی نه درلود چی ګوندی مسلمانان به په هغه څه شك وکړی، ځکه د قیدیانو وارثان دفدئی ورکولو لپاره مدینی ته په آزاده تلای شول.

عمیر بن وهب د روانیدلو نه وړاندی خپلی ښځی ته وویل چی زما توره به ښه تیره او د زهرو اوبه به ورله ورکړی. کله چی هغه مدینی ته ورسید نو د پیغمبر صلی الله علیه

وسلم په لټه کې شو، آخر دا چې د مسجد نبوي ترڅنګ د خپل آس نه راکوز او د جومات په لور روان شو. پدغه وخت کې حضرت عمربن خطاب رضی الله عنه د څو نورو صحابؤ سره يواځې د مسجد نبوي په خوا کې ناست ؤ او د بدر په جنګ کې ئې د هغو قريشو په باب خبرې اترې کولې کوم چې د مسلمانانو له خوا نيول شوي او وژل شوي وو.

او يوبل ته ئې ويل ګورئ انصارو او مهاجرينو چې څوانمردي او ميړانه د جنګ په ميدان کې ښکاره کړه نو الله تعالی هغوی له عزت ورکړ، فاتح ئې وګرځول او دښمن ئې ورته تباه او ذليل کړ، پدغه وخت کې حضرت عمر رضی الله عنه ګوري چې عمير بن وهب له خپل آس نه راکوز شو او توره ئې په غاړه وه او د مسجد نبوي په لور روان دی. حضرت عمر رضی الله عنه وويل په الله مې دې قسم وي چې دغه ددين دښمن په څه غلط خيال راغلی دی. ځکه ده د مسلمانانو په خلاف د مکې مشرکين راپارولي وو او زمونږ خلاف ئې جاسوسي کړې وه. خپلو ملګرو ته ئې وويل په چټکۍ ورشئ او د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه چاپيره شئ او دا مکار ئې خواته نژدې پرې نږدئ.

حضرت عمر رضی الله عنه د نبي کريم صلی الله عليه وسلم څنګ ته ورغی او عرض ئې وکړ يا رسول الله! د الله تعالی دښمن عمير بن وهب توره په غاړه ستا طرف ته راروان دی، زه ګمان کوم دی په څه غلطه اراده راغلی دی. نبي کريم صلی الله عليه وسلم ورته وويل، هغه زما څنګ ته راولئ، حضرت عمر رض الله عنه ورغی او عمير ئې د دواړو لاسونو نه نيولی او د نبي کريم صلی الله عليه وسلم حضور ته ئې حاضر کړ.

حضور صلی الله عليه وسلم حضرت عمر رضی الله عنه ته وويل د عمير لاسونه خوشې کړه او د خوانه ئې ليرې شه. خپله نوراني څېره ئې د عمير بن وهب په لور راوګرځوله او ورته ئې وفرمائيل، عميره! لږ زما څنګ ته رانږدې شه، هغه ئې څنګ ته ورنږدې شو او عرض ئې وکړ، سهر دې پخير (دا د جاهليت په دور کې د عربو د سلام طريقه وه) رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: ای عميره! الله تعالی مونږ ته د سلام ډيره ښه طريقه راښودلې ده، مونږ اسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته وايو، دا د اهل جنت سلام دی او په دې کې د انسانانو عزت دی. بيائې ترې پوښتنه وکړه: ای عميره! په څه مقصد دلته راغلی ئې؟ هغه ورته عرض وکړ د خپل يرغمل شوي ځوی د آزاديدلو په خاطر راغلی يم که تاسو هغه زما سره راپريږدئ نو دا به ستاسو په ما احسان وي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم ترې پوښتنه وکړه، نو بيا توره په لاس ولې راغلی ئې؟ هغه ځواب ورکړ ،تاسو د بدر په جنګ کې مونږ له داسې ماتې راکړه چې ددې تورو ځوکې مو ماتې کړې. رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته بيا وويل: عميره! رښتيا رښتيا ووايه! په څه مقصد راغلی ئې؟ هغه ځواب ورکړ ، ماچې کومه خبره وړاندې وکړه، په هماغه مقصد راغلی يم.رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل،ته او سفيان بن اميه چې د بيت الله په څنګ کې ناست وئ او د بدر په جګړه کې مو د خپلو مړو شوو کسانو په باب اوښکې تويولې. بيا ورته تا وويل که زه قرضداری نه وای نو ما به همدا اوس محمد صلی الله عليه وسلم قتل کړی وی، بيا صفوان ستا سره وعده وکړه چې ته دغه کار وکړه،زه به ستا ټول قرض اداء کړم. عمير چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا خبرې واوريدلې نو څه شيبه په فکر کې شو او بيا ئې د خولې نه يوه چغه وختله او وی ويل: زه ګواهي ورکوم چې ته محمد صلی الله عليه وسلم د الله رښتنی رسول ئې، او بيا ئې وويل:ای د الله رسوله! کله چې به په تا وحي نازل شوه نو مونږ به دروغ ګڼله،ليکن اوس چې زما او د صفوان په مينځ کې کومې خبرې شوي وې نو هلته زمونږ ددواړو نه بغير نور هيڅوک موجود نه وو، نو زه قسم کوم چې

دغه خبر تاته الله تعالی درکړی دی او زه د الله تعالی ډیر شکر گزار یم چی ستا حضور ته ئی راوستلم او ماته ئی د اسلام لارښوونه وکړه او بیا ئی وویل: چی:لااله الا الله محمد رسول الله«او مسلمان شو.

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو ملګرو ته وویل: خپل دغه ورور (عمیر) ته ددین او اسلام تعلیم ورکړئ او دده څوی آزاد کړئ. ټول صحابه رضی الله تعالی عنهم د عمیر بن وهب په اسلام قبلولو ډیر زیات خوشحاله شول. حضرت عمر رضی الله تعالی عنه وویل: کله چی عمیر په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی د حملی په نیت راغلی ؤ، نو ماته ئی خیره ډیره منحوسه ښکاره کیدله، مگر اوس ئی چی اسلام قبول کړو نو ماته د خپلو ځامنو نه هم زیات خوږ ښکاری.

عمیربن وهب رضی الله عنه د اسلامی تعلیماتو او قرآن پوهه حاصله کړه او زړه ئی د ایمان له نوره منور شو، هغه په مدینه منوره کی دومره خوشحاله ؤ چی د کلی ټول اوسیدونکی ئی هیر شول.

بله خوا صفوان بن امیه په مکه کی په دی انتظار ناست ؤ چی نن سبا به عمیر په مدینه کی دده مشن عملی کړی او څوک به ورله په زړه پوری خبر راوړی. هغه چی به د قریشو د سردارانو سره یوځای شو نو هغو ته به ئی ویل: ای زما ملګرو تاسو به په راتلونکو څو ورځو کی داسی د خوشحالی خبر واورئ چی د بدر د جنګ ټولی سختی به مو هیری شی.

لیکن د صفوان د انتظار ګړی ورځ په ورځ اوږدیدی او پریشانی به ئی زیاتیدله او دمدینی نه دهرراتلونکی مسافر نه به ئی د عمیرلټه کوله. مگرهیچا ورله داسی خبر ورنکړ چه د صفوان زړه پری ټکور شی، او بلاخره ورته د مدینی نه یو راغلی مسافرو ویل چه عمیر خوپه مدینه کی اسلام قبول کړ او مسلمان شو. دا خبره د صفوان په زړه د غشی په څیر ولګیده، خو بیا ئی هم خپل ځان له پخپله تسلی ورکوله چه نه دا کار هیڅکله نشی کیدای چه عمیر مسلمان شی.که ټوله دنیا اسلام قبول کړی عمیرئی نه قبلوی.

هلته عمیر کوشش کوه چه دینی تعلیم زده کړی او هم ئی دقرآن څه حصه حفظ کړه. وروسته له څه مودی هغه د حضور صلی الله علیه وسلم حضورته حاضرشو او عرض ئی وکړ ، ای داالله رسوله! ماد خپل ژوند زیاته حصه د اسلام په مخالفت کی تیره کړیده، په قریشو کی به چه چا اسلام قبول کړو نو مابه ورله ډول ډول سزاګانی ورکولی او اوس زما دا ارزو ده چی ته ماله اجازت راکړی چی زه خپل کلی ته ورشم ، قریشو ته دااسلام دعوت وړاندی کړم، که اسلام ئی قبول کړ خو بهتره او که انکار ئی تری وکړ نو هغه سزاګانی او تکالیف ورله ورکړم، کوم چی ماستا صحابه ؤ ته ورکړی دی، عمیر رضی الله تعالی عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اجازت مکی ته ولاړ او اول ئی د صفوان بن امیه سره ملاقات وکړ او ورته ئی وویل: ای صفوانه! ته د قریشو یو ډیر هوښیار سردار ئی او ددی باوجود د تیګو د خدایانو عبادت کوی او په نوم ئی نذر او قربانیانی ورکوی. ایا ستا عقل ته داخبره نه پریوزی چی دغه د تیګو نه جوړ شوی بوتان تاته نه خیر دررسولی شی نه شر؟

اوس دا خبره په خپلو غوږونو واوره چی زه (عمیر بن وهب) مسلمان شوی یم، او ددی خبری ګواهی ورکوم چی د الله تعالی نه بل هیڅوک د عبادت لایق نشته او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی ربښتینی نبی او رسول دی.

حضرت عمیر رضی الله تعالی عنه به د خپل کلی اوسیدونکو ته شپه او ورځ د اسلام تبلیغ کولو او هم په دغه وجه د مکی ډیر اوسیدونکی مسلمانان شول او اسلام ئی قبول کړ. الله تعالی دی عمیر بن وهب ته عظیم اجر ورکړی او د هغه په قبر دی الله تعالی رحمتونه نازل کړی.

«امین»

الله اکبر

د شپږو صحیحو کتابونو د مؤلفینو مذهب

صحاح ستة (شپږ صحیح کتابونه)

د حدیثو د علم یوه اصطلاح ده چې په هغې کې دحدیثو د علم شپږ صحیح کتابونه شامل دي لکه:

صحیح البخاري، صحیح المسلم، سنن ابي داؤد، سنن النسائي، جامع الترمذي او سنن ابن ماجه.

۱- صحیح البخاري: د محدثینو استاذ او رهبر امام محمد د اسماعیل ځوي چې په ۲۵٦ هجري کال ئی د أجل داعي ته لبیك ویلي دي، دا ممتاز کتاب ترتیب او تصنیف کړیدي.

۲- صحیح مسلم: امام مسلم د حجاج قشیري ځوي چې په کال ۲٦۱ هجري کي وفات شوي دا صحیح کتاب ئی ترتیب کړیدي.

۳- سنن ابي داؤد: إمام ابو داؤد سلیمان د اشعث سجستاني ځوي چي په کال ۲۷۵ هجري کي د دنیا څخه وفات شوي دي، دا کتاب ترتیب کړیدي.

٤- جامع الترمذي: امام ابوعیسی محمد د عیسی ځوي د ترمذ اوسیدونکي چي په کال ۲۷۹ هجري کي ددنیا څخه وفات شوي دي، دا کتاب ترتیب کړیدي.

۵- سنن النسائي: امام ابو-عبدالرحمن احمد د علي ځوي او د شعیب لمسي چي په کال ۳۰۲ هجري کي وفات شویدي دا کتاب ترتیب کړ.

٦- سنن ابن ماجه: امام ابو-عبدالله محمد د یزید ځوي د ماجه لمسي چي په کال ۲۷۳ هجري کي وفات شویدي، دا کتاب تألیف او ترتیب کړ.

الجامع الصحيح البخاري: ددي جلیل القدر او شاندار کتاب پوره نوم: «الجامع الصحیح المسند من حدیث رسول الله صلي الله علیه وسلم وسننه وآیامه» دي دا شانداره کتاب امام بخاري په شپاړس کاله کي ترتیب او تألیف کړیدي.

حافظ ابن صلاح د صحیح بخاري او صحیح مسلم په باره کي لیکي:

د الله تعالي د کتاب څخه وروسته ددي دواړو کتابونو درجه لوړه ده او صحیح بخاري د ډیرو ګټو په درلودلو

ممتاز او لومړي دي.

حضرت شاه ولي الله دهلوي ليکي:

هر هغه څوک چيددي کتاب شان ته قايل نشي، بدعتي او د مسلمانانو د لاري څخه خلاف روان دي. علامه نوو وي وائي: د مسلمانانو علماء پر دي متفق دي چي صحيح بخاري د صحت او ډيرو ګټو درلودلو په خاطر پر صحيح مسلم باندي مخکي او وړاندي دي.

حافظ ابن کثير ليکي: د بخاري مقابله صحيح مسلم او يا بل کوم کتاب نشي کولي.

د صحيح بخاري د تأليف مقصد:

ليکوالانو د خپلي خوښي مطابق کتابونه انتخاب کړيدي، د امام بخاري د بخاري د ليکلو نه د مسايلو استنباط او استخراج طريقي دي او دا طريقي د کتاب د بابونو څخه په واضح ډول څرګندېږي. د هغه په درس کي مشهوره وينا ده چي د بخاري ټولي ګټي د بخاري د بابونو په ترجمو کي نغښتي دي.

د امام بخاري مذهب:

دامام بخاري د مذهب په باره کي د علماؤ اختلاف دي، د محدثينو په باره کي د علماؤ تل دا کوشش وي چي محدثين د خپل مذهب او مسلك پيروان ثابت کړي. همدا کار د امام محمد بن اسماعيل بخاري سره هم په واضحه توګه شويدي.

علامه تقي الدين عبدالوهاب سبکي امام بخاري شافعي مذهبي ليکلي او ګڼلي دي.

د نبوي سنتو ژوندي کونکي نواب صديق حسن خان هم د علامه تقي-الدين تائيد کړيدي. او د حافظ ابن حجر نظر او خيال دي چي د امام بخاري فقهي مسايل د امام شافعي له مسلك څخه اخستل شويدي.

د حافظ ابن القيم د تحقيق په اساس امام بخاري حنبلي مذهبی دي او علامه طاهر الجزايري ليکي چي امام بخاري د کوم مذهب مقلد نه دي بلکه هغه مجتهدمعلق ؤ.

الجامع الصحيح مسلم:

د صحيح مسلم مقام او منزل د صحيح بخاري نه وروسته په دوهم قدم کي دي، ددي خبري اقرار او په دي باندي اعتراف د حديثو د علم ډيرو ناقدينو کړيدي. د صحيح بخاري او صحيح مسلم پر صحت باندي د ټول امت اتفاق دي همدارنګه امام بخاري او امام مسلم د خپلي زماني علماؤ او د هغي څخه وروسته علماؤ باندي دحديثو د علل او باريکه نقطو پيژندلو او ددوي پر مينځ کي فرق کولو کي د ټولو علماؤ څخه مخکی ؤ.(اتحاف النبلا٤٨)

مسلمدتأليف مقصد:

امام مسلم دحديثو په جمع کولو کي پر خپل ذاتي تحقيق اعتماد ندي کړي بلکه د ډير احتياط پخاطرئي هغه آحاديث جمعه کړي چي پر صحت ئي د وخت ټول علماء متفق وو،په همدي طريقه امام مسلم په خپل کتاب صحيح مسلم کي صحيح آحاديث په مختلفو سندونو جمع کړيدي.

د امام مسلم مذهب:

د امام مسلم په مذهب کي هم اختلاف دي، مولانا سيدمحمد انورشاه الکشميري په نظر کي د نوموړي مذهب معلوم ندي.

د نبوي سنتو ژوندي کونکي سيد-

نواب صديق حسن خان ليکي: چي امام مسلم شافعي مذهبي ۇ.

د مولانا عبدالرشيد په نظر امام مسلم مالکي مذهبي دي.

د مولانا طاهر الجزائري په نظر امام مسلم د کوم خاص مذهب مقلد نه دي، مگر د حجاز والاۇ مذهب او رائي ته مايل دي. او شيخ عبدالطيف سندي وائي امام مسلم مجتهد ۇ.

سنن ابي داؤد: په دي کي هيڅ شك نشته چي د صحيح بخاري او صحيح مسلم فوقيت او امتياز په ځلورو سننو کتابونو باندي حاصل دي مگر د هغي څخه وروسته په نورو کتابونو کي د علماۇ اختلاف دي، څوك په دريمه درجه کي سنن النسائي گڼي او څوك جامع ترمذي او څوك سنن ابي داؤد. مگر حافظ ابن القيم سنن ابي داؤد په دريمه درجه کي شميري. اول نمبر صحيح کتاب د کتاب الله څخه وروسته صحيح بخاري دي او په دوهمه درجه کي مسلم دي او په دريمه درجه کي سنن ابي داؤد دي، علماۇ د سنن ابي داود صفت کړيدي.

امام خطابي ليکي: د سنن ابي داؤد په ډول کتاب ددين په علومو کي بل ندي ليکل شوي. د حافظ ابن القيم په نظر کي امام ابو داؤد داسي کتاب ليکلي دي چي هغه د مسلمانانو په منځ کي د حکم صفت او په اختلافي مسائلو کي يو قاطع حيثيت لري.

سنن ابي داود د ليکلو مقصد:

امام ابو داؤد په داسي وخت او زمان کي د اول ځل لپاره سترگي پرانستي چي په هغه وخت کي د هر مذهب مقلدينو به په بعضو آحاديثو باندي د خپل مذهب مطابق استدلال کولو، نو ابو داؤد ددي کتاب ليکل لازم وگڼل چي د حديثو په فن کي بايد د حديثو يو داسي کتاب وليکل شي چي په هغي کي ټول هغه آحاديث راجمع شي چي په هغه باندي علماۇ د خپل مذهب د مسائلو د تائيد لپاره استدلال کړيدي.

علامه ابن القيم د ابو داؤد ددي اقدام په باره کي ليکي: په هغه وخت کي امام ابو داؤد څه شي باعث کړ چي هغه دا کتاب وليکه؟ ددي مهمه او عمده وجه داوه: يوه ډله علماء د نبوي آحاديثو حفاظ وو او د حديثو يادولو او جمع کولو کي سرگرم وو او د مسايلو استنباط ته ئي هيڅ ډول توجه نه وه، ددي ډلي په مقابل کي بله ډله داسي وه چي هغوي د مسائلو په استنباط او استخراج کي بوخت وو او د حديثو حفظ ته ئي څه خاصه توجه نه وه.

حضرت شاه ولي الله الدهلوي ليکي:

د امام ابو داؤد د سنن ابو داؤد د ليکلو څخه مقصد دا وو: هغه مروج آحاديث کوم چي فقهاء پر هغي باندي استدلال کوي او د هغي څخه احکام راوباسي ددي مقصد پخاطر امام ابو داؤد خپل کتاب تصنيف کړ.

ددي په باره کي حافظ سيوطي ليکي: د احکامو په راټولولو کي ددي څخه بهتر کتاب نشته او دا کار د يو مجتهد لپاره کافي دي.امام ابو- داؤد په خپل کتاب سنن ابو داؤد او د أئمه ۇ موضوعات خپل محوري او اساسي موضوع گرځولي ده.

د نبوي ملغلرو امېل

په تیر پسې

نهم حدیث: له حضرت ابو- هریره رضي الله عنه نه روایت دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم به هر سهار دا دعا لوستله: اللهم اصبحنا وبك امسینا وبك نحیی وبك نموت و الیك النشور (مشکوة باب مایقول عند الصباح والمساء والمنام فصل دوم)

ترجمه: الله ستا په مهربانۍ سهار شو او ستا په امر ماښام کېږي او ستا له برکته ژوندي پاتي یو.

د ماښام په وخت کي دا دعا ولولئ:

اللهم بك امسینا وبك اصبحنا وبك نحیي وبك نموت والیك المصیر. (مشکوة باب مایقول عند الصباح والمساء والمنام فصل دوم)

ترجمه: الله! مونږ ستا له برکته ماښام اوتر سهاره پوري په امن کي یو اوستا په امر ژوندي یو او مرو به او تاته به بیرته درځو.

لسم حدیث: له حضرت معقل بن یسار رضي الله عنه نه روایت دي چه رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل چي کوم سړي سهار په وخت کي دا وظیفه وکړی نو الله تعالي اویازره ملایکي ورته رالیږي اوتر ماښامه پوري دهغه لپاره دعا کوي که چیرته تر ماښامه پوري مړ شو نو د شهادت درجه ورته ورکړي شوه او که ماښام چا ولوستله نو هغه ته به هم دا ثواب ورکړي شي: «أعوذ بالله السمیع العلیم من الشیطن الرجیم هوالله الذي لا اله الا هو عالم الغیب والشهادة هوالرحمن الرحیم هوالله الذي لا اله هو الملك القدوس السلام المؤمن المهیمن العزیز الجبار المتکبر سبحان الله عما یشرکون.هوالله الخالق الباریٔ المصور له الاسماء الحسنی یسبح له ما في السموات والارض وهو العزیز الحکیم» (مشکوة فضایل القرآن فصل دوم)

ترجمه: زه د اوریدونکي او پوهیدونکي الله پناه غواړم،له شیطان رټلي څخه،الله تعالي هغه ذات دي چي له هغه پرته بل څوك د عبادت وړ نه دي هغه په ټولو پټو او ښکاره خبر دي ډیر مهربانه او رحم کوونکي دي.

الله تعالي هغه ذات دي چي له هغه نه پرته بل څوك د عبادت وړ نه دي. پاچا ، پاك، بي عیبه، د امن خاوند، ساتونکي، غالب او د شان اوشوکت خاوند دي. الله تعالي هغه ذات دي چي پیداکونکي، جوړونکي د صورت،د هغه نوم ډیر ښه دي او په مځکو او آسمانونو کي ټول شیان د هغه صفت کوي او هغه غالب او پوه دي.

یولسم حدیث: له حضرت عبدالله بن خبیب رضي الله عنه نه روایت دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل چي ولوله ما ورته وویل چي څه ولولم هغه وویل چي ولوله: بسم الله الرحمن الرحیم

قل هوالله احد○ الله الصمد○ لم یلد○ ولم یولد○ ولم یکن له کفواً أحد○ قل اعوذ برب الفلق،من شر ما

خلق.ومن شر غاسق اذا وقب.ومن شر النفثت في العقد.ومن شر حاسدٍ إذا حسد.

«قل اعوذ برب الناس.ملك الناس. اله الناس. من شر الوسوس الخناس. الذي يوسوس في صدور الناس. من الجنة والناس». (مشکوة فضایل القرآن فصل دوم)

ترجمه: ووایه! الله تعالي یو دي، بي نیازه دي، نه له هغه څوك پیدا شوي دي او نه هغه له چا څخه زیږیدلي دي او نه د هغه کوم ملګري شته.

ووایه چي زه د سهار له الله پناه غواړم له هر څورونکي مخلوق څخه او د توري شپي له افتونو څخه او له جادوګرانو څخه چي پوکي کوي او د حسد کوونکي له حسد څخه پناه غواړم.

ووایه زه د خلکو له پاچا او رب نه پناه غواړم او د خلکو د معبود پناه غواړم د شیطان له وسوسو او وهمونو څخه چي ساتونکي دي او وسوسي د خلکو په زړونو کي پیدا کوي که هغه شیطان له جناتو یا انسانانو څخه وي.

دولسم حدیث: له حضرت عطاء بن ابي رباح رضي الله عنه دا خبره واوریدله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چي که چا یُسین شریف ولوسته نو ټول حاجتونه به ئي پوره شي. (مشکوة کتاب فضایل القرآن فصل دوم)

دیارلسم حدیث: له ابو مالك رضي الله عنه نه روایت دي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چي د سهار په وخت کي دا دعاء لولئ: «اصبحنا و اصبح الملك لله رب العلمين اللهم إني اسئلك خير هذا اليوم فتحه و نصره و نوره و بركته و هداه و اعوذ بك من شر ما فيه ومن شر ما بعده».

ترجمه: په مونږ او د الله تعالي په ټول مخلوق باندي سهار شو، الهي! زه ددغي ورځي کامیابي درنه غواړم، برکت او هدایت غواړم نن او په راتلونکي وخت کي زه پناه غواړم له خطراتو څخه.

مابنام دا دعاء ولولئ:

«امسينا و امسى الملك لله رب العلمين اللهم اني اسئلك خير هذه الليلة فتحها و نصرها و نورها و بركتها و هديها و اعو ذبك من شر ما فيها ومن شر ما بعدها». ((مشکوة باب مایقول عند الصباح والمساء والمنام فصل دوم)

ترجمه: په مونږ او د الله تعالی په ټول مخلوق باندي مابنام شو، الله! زه نن شپه ستا خیر او کامیابي، برکت او هدایت ته محتاج یم نن شپه او بله شپه هم ستا پناه غواړم له خطراتو څخه.

څوارلسم حدیث: د سهار د لمانځه نه وروسته که چا له خبرو کولو نه مخکي دا دعا اوه واري وویله که چیري بیا هغه په شپه کي مړ شو نو الله تعالی به ئي له اوره وساتي همدا رنګه مابنام هم دا فضیلت لري.

«اللهم اجرني من النار». (مشکوة باب مایقول عند الصباح والمساء والمنام فصل دوم)

ترجمه: الله! ما له اوره وساتي.

پنځلسم حدیث: رسول صلی الله علیه وسلم به د سهار لمانځه نه وروسته دا دعاء لوستله: «اللهم اني اسئلك علماً نافعاً وعملاً متقبلاً ورزقاً طيباً». (مشکوة باب جامع الدعاء فصل دوم)

ترجمه: الله زه له تا ښه علم، ښه عمل او حلاله روزي غواړم.

شپاړسم حدیث: حضرت جابر رضي الله عنه وائي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که چا د سهار او مابنام له لمونځونو نه وروسته له خبرو کولو نه مخکي سل ځلي درود شریف ولوست نو الله تعالی به د هغه سل ضرورتونه پوره کړي،دیرش په دنیا کي او اویا په آخرت کي: «اللهم صل على محمد» (جلاء الافهام صـ ۳۵۸)

ترجمه: اي الله! په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندي رحمت نازل

کړي.

خصوصي دعاء ګاني:

۱- د جومات نه د وتلو دعاء: له حضرت اسيد رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چي کله له جومات نه وزئ نو دا دعاء لولي: «اللهم اني اسئلك من فضلك» (مشکوة باب المساجد ومواضع الصلوة فصل اول)

ترجمه: الله! زه ستا فضل غواړم.

۲- کورته دداخليدو دعاء: له حضرت ابو مالك اشعري رضي الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: څوك چي کورته راننوزي نو دا دعاء دي ولولي او د کور خلکو ته دي سلام واچوي.

«اللهم اني اسئلك خير المولج او خير المخرج بسم الله ولجنا وعلى الله ربنا توكلنا». (مشکوة باب الدعوات في الاوقات فصل دوم)

ترجمه: الله! زه له تا څخه کورته د ننوتلو او وتلو د بهترۍ سوال کوم د الله تعالى په نوم داخليږو او په هغه توکل کوو.

۳- د خوړلو او څښلو په وخت کي بايد بسم الله وويله شي: يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلو اصحابو ته وويل چي د ډوډۍ په وخت کي داسي ووايي: بسم الله وعلى بركت الله. (مشکوة کتاب الاطعمة فصل اول)

ترجمه: د الله په نوم او د هغه په برکت ډوډۍ خورم.

له حضرت عايشه رضي الله عنها نه روايت دي چي که د چا ډوډۍ خوړلو په وخت بسم الله هيره شوه نو بيا چي ورپه ياد شي وه دي وائي او يا دى دا ووايي: بسم الله اوله و أخره. (مشکوة کتاب الاطعمة فصل دوم)

ترجمه: د الله نوم ډوډۍ په اول او آخر کي اخلم.

له حضرت ابو ايوب رضي الله عنه څخه روايت دي چي کله به رسول الله صلى الله عليه وسلم ډوډۍ خوړله نو دا دعا به ئي ويله: الحمدلله الذي اطعمنا و سقانا و جعلنا من المسلمين. (مشکوة کتاب الاطعمة فصل دوم)

ترجمه: ټول تعريفونه الله تعالى لره دي چي ډوډۍ ئي راباندي وخوړله او اوبه ئي راباندي وڅښلي او مسلمانان ئي کړو.

له حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به له ډوډۍ خوړلو نه وروسته دا دعاء ويله: الحمدلله الذي اطعم وسقي وسوغه وجعل له مخرجاً. (کتاب الاذکار ص ۱۰۵)

ترجمه: ټول تعريفونه الله تعالى لره دي چي را باندي وخوړل او وي څښل او حلق ئي راکړ او د فضله موادو د وتلو لاري ئي هم جوړه کړېده.

٤- د شهدو د څښلو دعاء: اللهم بارك لنا فيه وزدنا منه. (مشکوة باب الاشربه فصل دوم)

ترجمه: الله تعالى په دي کي ماته زيات برکت راکړه او له دي نه زيات راکړه.

۵- د وادهٔ د شپي دعاء: د حضرت عمرو بن العاص لمسي حضرت عبدالله رضي الله عنهم د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه دا ارشاد رانقل کړيدي چي کله له ښځي سره نکاح وکړي نو د هغي د تندي ويښتان ونيسئ او د برکت له دعاء سره سره دا دعاء هم ولولي: اللهم اني اسئلك خيرها وخير ما جبلتها عليه و اعوذبك من شرها و شر ما جبلتها عليه. (مشکوة باب الدعوات في الاوقات فصل دوم)

ترجمه: الله! زه له تا څخه خير غواړم د هغه شي خير غواړم چي زه دي ورنه پيدا کړي يم او الله ما د هغه له بديو ساتي.

دليكونو بهير

دعوت مجله ـ پوست بكس نمبر ٦١٤ جی-پی -او -پشاور پاکستان

د باجوړ څخه محترم عبدالغفور او عبدالجلال صاحبان ليکي:

گرانو او محترمو ددعوت مجلي کار کوونکو! د جهاد، توحيد او ددعوت الي الله د عقيدي ملگرو اول زه تاسو ته د سيد انبياء صلي الله عليه وسلم دا مبارکه تحفه وراندي کوم! هيله ده چي قبول او منظور ئي کړئ.

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

محترمو! په هر وخت کي مونږ الله ته سوال کوو چي الله تعالي دي زمونږ دعوت په ټول جهان کي خپور کړي او بيا دا وايو چي الله تعالي زمونږ هغه مشران چي ددعوت په کار کي شپه او ورځي زيار باسي، الله تعالي دي ورته اجرعظيم ورکړي.

ددعوت مجلي او د عقيدي ملگرو! موږ ددعوت مجلي لپاره يو مضمون درواستولو هيله ده چي نشري ئي کړي.

والسلام عليکم ورحمة الله

****

د ننگرهار له ولايت د چپرهار له ولسوالي څخه عبدالسلام «حقيار» صاحب ليکي:

ډيرومحترمو ددعوت مجلي کار کوونکو ورونو!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

عزتمندو! جماعة الدعوت په افغانستان کي د اسلامي بيرغ د پورته کولو لوبه نښه ده، دا تنظيم چي تر کومه ژوندي وي، ددعوت مجله به ژوندي وي، مونږ هر وخت ددعوت مجلي د پرمختيگ دعاگاني کوو، الله تعالي دي وکړي چي تاسي ددي مجلي د خدمت پخاطر د هميشه لپاره بريالي او کامياب اوسئ، ددعوت مجله چي هر وخت مطالعه کوو د مضامينو څخه ئي ډير خواږه مقاصد ترلاسه کوو.

محترمو! زما يو څو غوښتني دي هيله مند يم چي پوره شي.

١- ددعوت مجله کي بايد پرته له افغانستان څخه د نورو هيوادونو معلومات هم نشر شي.

٢- د جماعة الدعوت الي القرآن والسنة رهبر محترم مولوي صاحب سميع الله چي يو لوي عالم دي، ددعوت د مجلي سرپرست هم دي،لازم ده چي په هره گڼه کي ئي بيان نشر شي.

٣- زمونږ مینه د خوږو اشعارو سره وي باید په ترتیب سره ښکلي اشعار نشر شي.
٤- په مجله کي باید پښتو مضامین ولیکل شي ځکه د فارسي مضامینو څخه مفهوم نشو اخستلي.
٥- د شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) ویناګاني باید نشر کړئ چي مونږ تري مستفید شو.
والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

****

ددعوت مجلي ډیرو ګرانو لوستونکو ورونو!

سلامونو ته مو په ډیره مینه وعلیکم السلام ورحمت الله وبرکاته وایو.

محترمو لوستونکو! مونږ چي ستاسو په رالیږل شوو لیکونو کي ددعوت د مجلي توصیف وګورو نو حوصلي مو لا مضبوطي شي او همدارنګه ستاسي معقول انتقادات مونږ خپلو نیمګړتیاؤ ته متوجه کړي او ستاسو د لیکونو په برکت مونږ ددعوت د مجلي نیمګړتیاوي پوره کړو. هیله ده چي په آینده کي به هم زمونږ سره خپله رابطه جاري ساتئ.

کومو ورونو چي دعوت مجلي ته مضامین او اشعار راستولي، هغه مو د هیئت تحریر په حواله کړل، که د چاپ وړ وو انشاء الله هرومرو به چاپ شي.

د غلام رحیم ورور د یوي پوښتني په باب کباید ووایو چي ستاسو لیک مونږ ته په داسي وخت کي راورسید چي مجله د چاپ دپاره اماده وه. انشاء الله په راتلونکو ګڼو کي به ستاسو د پوښتني مفصل ځواب درکړي شي.

ستاسو د لا همکارئی په هیله!

(اداره)

بانکی ادرس

افغان اسلامي خبری اداره – اکاونټ نمبر (١٠٦٣-٧) نیشنل بینك اف پاکستان صدر- روډ پشاور.

Afghan Islamic News Agency A/c No: 1063-7 National Bank of Pakistan Saddar Road Peshawar.

ارشاد نبوی

وعن ابي الدرداء (رضي الله عنه) انه سمع رسول الله صلي الله عليه وسلم يقول: «مامن عبد مسلم يدعو لاخيه بظهرالغيب الا قال الملك ولك بمثل» (رواه مسلم)

ترجمه: از ابو درداء (رضی الله عنه) روایت شده که او از رسول الله صلی الله علیه وسلم شنید که فرمود: هیچ بندهء مسلمانی نیست که برای برادرش در غیاب وی دعاء میکند مگر اینکه فرشته میگوید و برای تو مانند آن باد.

وعنه انّ رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يقول: «دعوة المرء المسلم لاخيه بظهرالغيب مستجابة عند رأسه ملك موكل كلما دعا لاخيه بخير قال الملك المؤكل به: آمين، ولك بمثل» (رواه مسلم)

ترجمه: از ابو درداء (رضی الله عنه) روایت است که رسول الله صلی الله علیه وسلم میفرمود: دعای شخص مسلمان برای برادرش درغیاب وی مستجاب است، در نزد سرش فرشته موظفی است که هرگاه برای برادرش دعای خیر کند فرشته موظف به آن میگوید: آمین وبرای تو مانند آن باد.

د شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)

له وینا وو څخه

د «جماعة الدعوة» د جوړیدو مطلب د نورو تنظیمونو په شان ندي چي د مسلمانانو د یووالي او د اسلامي تعلیماتو د تدریس او ترویج پر ځاي د شخص اطاعت ته بلنه ورکړي، بلکه د دي تنظیم د جوړیدو اصلي مطلب هم د الله تعالي دهغه حکم په مطابق دي چي فرمائی:(ولتکن منکم امة یدعون الي الخیر یأمرون بالمعروف وینهون عن المنکر) یعني دا چي الله تعالي فرمائي چي خاماخا دي په تاسو کي یو داسي ډله وي چه د خیر او نیکیو لور ته بلنه ورکوي او د بدو څخه خلك منع کوي. خیر او نیکي د الله تعالي په کتاب او د رسول الله صلي الله علیه وسلم په سنتو کي نغښتي دي، له دي نه غوره خیر او نیکي به کومه وي چي د الله تعالي د کتاب او د رسول الله د سنتو مطابق عمل وشي، نو ځکه اسلام ته بلنه خیرته بلنه ده، وروروئ ته بلنه ده، یو والي او اتحاد ته بلنه ده او «جماعة الدعوة» له دي نه غیر بله بلنه نه لری.

(له کیسټ نه اخیستل شوي مطلب)